۲- په افغانستان کی د ملګرو ملتونو د غړو نقلیه واسطی چی د مالیی د وزارت له خوا په رسمی ډول معرفی کیږی.

۳- د هغو بهرنیو مستخدمینو نقلیه واسطی چی دګمرکی محصول له ورکړی معاف دی او دمالیی د وزارت له لاری په رسمی ډول معرفی کیږی.

اته پنځوسمه ماده:
(۱) د هغو نقلیه واسطو د مجموعی بیی نه چی تخریب ته سوقیږی په سلو کښی یو د دغه قانون د منضمه جدول مندرج ترافیکی محصول د هغی له افغانی صورت می گیرد.

(۲) در سایر موارد معاینات تخنیکی اجرت اخذ نمی گردد.

مادۀ پنجاه وهفتم:
وسایط نقلیه ذیل از تادیۀ محصول ترافیکی معاف بوده ومکلف به پرداخت قیمت اسناد، فورمه ها ونمبر پلیت می باشد:

۱- وسایط نقلیه کور دیپلوماتیک (نمایندگان سیاسی دول متحابه مقیم افغانستان) که از طریق وزارت مالیه رسماً معرفی گردند.

۲- وسایط نقلیۀ اعضای ملل متحد مقیم افغانستان که توسط وزارت مالیه رسماً معرفی میشود.

۳- وسایط نقلیه مستخدمین خارجی که از تادیۀ محصول گمرکی معاف بوده واز طریق وزارت مالیه رسماً معرفی میشود.

مادۀ پنجاه وهشتم:
(۱) از مجموع قیمت تعیین شدۀ وسایط نقلیه که به تخریب سوق می گردند یك فیصد محصول ترافیکی مندرجۀ جدول منضمه این قانون از

WWW.AEL.AF

خاوند نه اخیستل کیږی.

(۲) د نقلیه واسطی د خود سرانه تخریب په صورت کښی، د نقلیه واسطی خاوند په قانونی ټاکلی تأدیب بر سپره د دغه قانون د منضمه جدول د مندرجوبیو په سلوکی یو د ترافیکی محصول په ورکړه مکلف دی.

نهه پنځوسمه ماده:

د نویو نقلیه واسطونه چی انتقال شوی وی او د هغو د پلورلو او پیرودلو نه د دغه قانون د منضمه جدول د مندرجی فیصدی سره سم دګمرک یا د ترافیکو د فنی هیأت له خوا د تثبیت شوی قیمت له مجموع نه ترافیکی محصول اخیستل کیږی.

شپیتمه ماده:

دولتی نقلیه وسایط دثبت په لمړی وخت کی دولتی ادارو ته د نقلیه وسایطو د انتقال او د دولتی ادارو په منځ کښی د پلورلواو پیرودلو په صورت کښی دمربوطی اداری په ګمرکی معافیت د ترافیکی محصول نه معاف دی او د ګمرکی محصول د معافیت په نشتوالی کښی ددغه قانون دمنضمه جدول دمندرج ترافیکی محصول په ورکړه مکلف دی.

مالك آن اخذ میشود.

(۲) در صورت تخریب خود سرانه واسطه نقلیه مالك واسطه نقلیه علاوه بر تأدیب معینهٔ قانونی به پرداخت یك فیصد محصول ترافیکی از قیمت های معینه مندرج جدول منضمهٔ این قانون مکلف میباشد.

مادهٔ پنجاه ونهم:

محصول ترافیکی از وسایط نقلیه جدید، واگذاری شده و خرید و فروش آن مطابق فیصدی مندرجهٔ جدول منضمه این قانون از مجموع قیمت تثبیت شدهٔ گمرك یا هیأت فنی ترافیك اخذ میگردد.

مادهٔ شصتم:

وسایط نقلیهٔ دولتی در ابتداء ثبت، در صورت واگذاری وسایط نقلیه به ادارات دولتی وخرید وفروش آن بین ادارات دولتی با معافیت گمرکی ادارهٔ مربوط از پرداخت محصول ترافیکی معاف بوده ودر عدم معافیت محصول گمرکی مکلف به پرداخت محصول ترافیکی مندرج جدول منضمه این قانون می باشد.

WWW.AEL.AF

يوولسم فصل
جزائی احکام

يو شپيتمه ماده:
(۱) مالک يا چلوونکی اجازه نه لری چی ماشين لرونکی نقليه واسطه بی له قانونی جواز سير او نمبر پليټ نه پکار واچوی، مرتکب له دری مياشتو نه تر شپږو مياشتو پوری په بند يا له دری زره نه تر شپږ زره افغانيو پوری په نغدی جزأ محکوميږی.

له سرحد نه د محصول د اخيستلو تر سيمی پوری د لاری واټن په دغه حکم کښی شامل نه دی.

(۲) که چېری مالک يا چلوونکی د يوی ماشين لرونکی نقليه واسطی د سير له جواز او نمبر پليټ نه په بلی ماشين لرونکی نقليه واسطی کښی استفاده وکړی او يا د يوی ماشين لرونکی نقليه واسطی د سير جواز او نمبر پليټ په بله نقليه واسطه کښی د بل د استفادی لپاره ورکړی د دی مادی د لومړی فقری د مجازاتو په اکثر حد محکوميږی.

دوه شپيتمه ماده:
(۱) څوک چی د ماشين لرونکی نقليه واسطی نه د هغی د مالک يا متصرف

فصل يازدهم
احکام جزائی

مادۀ شصت ويکم:
(۱) مالک يا راننده اجازه ندارند واسطه نقليه موتر دار را بدون جواز سير و نمبر پليټ قانونی بکار اندازند. مرتکب به حبس سه الی ششماه يا جزای نقدی سه هزار الی شش هزار افغانی محکوم ميگردد.

مسافه راه از سرحد الی محل اخذ محصول شامل اين حکم نمی باشد.

(۲) هرگاه مالک يا راننده از جواز سير و يا نمبر پليټ يک واسطه نقليه موتر دار در واسطه نقليه موتر دار ديگری استفاده بعمل آرد يا جواز سير و يا نمبر پليټ يک واسطه نقليه موتر دار را بمنظور استفاده در واسطه نقليه ديگری به استفاده غير قرار بدهد به حد اکثر مجازات فقرۀ (۱) اين ماده محکوم ميشود.

مادۀ شصت ودوم:
(۱) شخصيکه واسطه نقليه موتر دار را بدون اجازه مالک يا

WWW.AEL.AF

له اجازی نه پرته استفاده وکړی له یوی میاشتی نه تر دری میاشتو حبس او یا له زر افغانیو نه تر دری زره افغانیو پوری نغدی جزأ باندی محکومیږی.

(۲) که چېری د دی مادی په لومړی فقری کښی ذکر شوی عمل د غلا په مقصد صورت ومومی، مرتکب د جزأ د قانون له احکامو سره سم مجازات کیږی.

دری شپیتمه ماده:

که چېری د ماشین لرونکی نقلیه واسطی د ماشین یا چوکاټ (شاسی) نمبر محو او یا په بل شکل بدل شی مرتکب له دری میاشتو نه تر شپږ میاشتو پوری په حبس او یا له دری زره نه تر شپږ زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

څلور شپیتمه ماده:

(۱) که څوک د سیر د جواز د مندرجاتو خلاف د خپلی ماشین لرونکی نقلیه واسطی د رویت یا تونا‌ژ په بدلولو لاس پوری کړی او یا له مختلفو پرزه جاتو نه ماشین لرونکي نقلیه واسطه جوړه کړی، له دری میاشتو نه ترشپږو میاشتو پوری په حبس یاله دری زره افغانیو نه تر شپږ زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

متصرف آن استفاده نماید به حبس یك ماه الی سه ماه یا جزای نقدی یك هزار الی سه هزار افغانی محکوم میشود.

(۲) هرگاه عمل متذکره فقرهٔ (۱) این ماده به مقصد سرقت صورت گیرد مرتکب مطابق احکام قانون جزأ مجازات می گردد.

مادهٔ شصت وسوم:

هرگاه نمبر ماشین یا چوکات (شاسی) واسطه نقلیه موتر دار محو ویا به شکل دیگری تغییر داده شود مرتکب به حبس سه ماه الی شش ماه یا جزای نقدی سه هزار الی شش هزار افغانی محکوم می گردد.

مادهٔ شصت وچهارم:

(۱) شخصیکه بخلاف مندرجات جواز سیر به تغییر رویت ویا تونا‌ژ واسطه نقلیه موتر دار خود مبادرت ورزد ویا از پرزه جات مختلفهٔ واسطه نقلیه موتر دار بسازد به حبس سه الی شش ماه یا جزای نقدی سه هزار الی شش هزار افغانی محکوم می گردد.

WWW.AEL.AF

(۲) که چېرې د ورکشاپ مالك د دې مادې د لومړۍ فقرې د مندرج عمل مرتکب شي ترشپږ زره افغانیو پورې په نغدي جزأ محکومیږي.

(۲) هرگاه مالك ورکشاپ مرتکب عمل مندرج فقرۀ (۱) این ماده گردد به جزای نقدی الی شش هزار افغانی محکوم می گردد.

پنځه شپیتمه ماده:

که څوک د ترافیکو اداري ته د پخوانی اطلاع نه پرته د ماشین لرونکی نقلیه واسطې د ملکیت په انتقال د باډي، شاسي په بدلولو یا د رنګ په تغییر لاس پورې کړي تر دري میاشتو پورې په حبس او یا تر دري زره افغانیو پورې په نغدي جزأ محکومیږي.

مادۀ شصت وپنجم:

هرگاه شخصی بدون اطلاع قبلی اداره ترافیك به انتقال ملکیت، تبدیلی بادی، ماشین، شاسی یا تغییر رنگ واسطه نقلیه موتر دار بپردازد به حبس الی سه ماه یا جزای نقدی الی سه هزار افغانی محکوم می گردد.

د نقلیه واسطو د پلورلو او پیرودلو د معاملاتو لارښود او د ورکشاپ مالک د دغه حکم نه د سر غړونې په صورت کښې تر دري زره افغانیو پورې په نغدي جزأ محکومیږي.

رهنمای معاملات خرید وفروش وسایط نقلیه ومالك ورکشاپ در صورت عدم رعایت این حکم بجزای نقدی الی سه هزار افغانی محکوم میگردد.

شپږ شپیتمه ماده:

(۱) که څوک د چلولو د جواز له درلودلونه پرته ماشین لرونکی نقلیه واسطه په عام واټ وچلوی له یوی میاشتی نه تر شپږ میاشتو پورې په حبس یا له زر افغانیو نه تر شپږ زره افغانیو پورې په نغدي جزأ محکومیږي.

مادۀ شصت وششم:

(۱) شخصیکه بدون داشتن جواز رانندگی، واسطه نقلیه موتر دار را بالای جادۀ عامه براند به حبس یك الی شش ماه یا جزای نقدی یك الی شش هزار افغانی محکوم میگردد.

(۲) د نقلیه واسطې مالک یا متصرف

(۲) مالك یا متصرف واسطه

WWW.AEL.AF

د دی خبری په پوهیدلو سره سره چی چلوونکی د چلولو جواز نه لری او هغه ته د نقلیه واسطی د چلولو اجازه ورکړی تر دوه زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

اوه شپیتمه ماده:
د الکهولی مشروباتو او یا مخدره موادو له استعمال نه د راولاړی شوی نشی په حالت کښی چلول جرم دی. مرتکب د نورو قوانینو د احکامو په پام کښی نیولو سره له شپږو میاشتو نه تر یوه کال پوری په حبس یا له شپږ زره افغانیو نه تر دولس زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

اته شپیتمه ماده:
که چېری څوک د ترافیکی مقرراتو، اشاراتو، علامو او ترافیکی تأسیساتونه د سر غړونی په سبب په عام واټ باندی د ترافیکو په امنیت کښی خطر واچوی تر دری میاشتو پوری په حبس یا تر دری زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

نهه شپیتمه ماده:
که څوک د واټ د ترافیک امنیت په عمدی ډول ګډوډ کړی چی د هغه په سبب اشخاصو ته ځانی او مالی زیان واوړی، د زیان په جبرانولو بر سېره د نقلیه که با وجود علم به نداشتن جواز رانندگی به شخص راننده اجازه راندن واسطه نقلیه را بدهد به جزای نقدی الی دو هزار افغانی محکوم می گردد.

مادۀ شصت وهفتم:
رانندگی در حالت سکر ناشی از استعمال مشروبات الکهولی و یا مواد مخدره جرم است. مرتکب با رعایت احکام سایر قوانین به حبس شش ماه الی یك سال یا جزای نقدی شش هزار الی دوازده هزار افغانی محکوم می گردد.

مادۀ شصت وهشتم:
هرگاه شخصی باثر عدم رعایت مقررات ترافیکی، اشارات، علایم و تأسیسات ترافیکی بالای جادۀ عامه خطری در امنیت ترافیك ایجاد کند به حبس الی سه ماه یا جزای نقدی الی سه هزار افغانی محکوم می گردد.

مادۀ شصت ونهم:
شخصیکه امنیت ترافیك جاده را بطور عمدی مختل سازد که به سبب آن ضرر جانی و مالی به اشخاص عاید گردد بر علاوه جبران

WWW.AEL.AF

جزأ د قانون له حکمونو سره سم مجازات کیږی.

خساره مطابق احکام قانون جزأ مجازات می گردد.

اویایمه ماده:
که څوک عام واټ د ترافیکو د اداری د پخوانی اجازی له حصول نه پرته د تعمیراتی او نورو موادو د کنبیښودلو په سبب بند، کنده یا د تېرېدلونه وباسی تر دری میاشتو پوری په حبس یا تر دری زره افغانیو پوری په نغده جزأ محکومیږی.

مادۀ هفتادم:
شخصیکه جادۀ عامه را بدون حصول اجازۀ قبلی اداره ترافیک بواسطه گذاشتن اشیاء مواد تعمیراتی وغیره مسدود، حفر ویا غیر قابل مرور گرداند به حبس الی سه ماه یا به جزای نقدی الی سه هزار افغانی محکوم می شود.

یو اویایمه ماده:
(۱) که څوک د ترافیکو علامی، اشارات او تأسیسات په خپل سر په عام واټ باندی نصب او یا هغه له واټ نه لیری کړی او یایی لوری بدل کړی تر دری میاشتو پوری په حبس او یا تر دری زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

مادۀ هفتادویکم:
(۱) شخصیکه علایم، اشارات و تأسیسات ترافیکی را خود سرانه بالای جاده عامه نصب یا آنرا از بالای جاده دور یا جهت آنرا تغییر دهد به حبس الی سه ماه و یا جزای نقدی الی سه هزار افغانی محکوم میگردد.

(۲) که څوک د اعلان، تابلو او داسی نورو د نصبولو په واسطه ترافیکی علامی او اشارات پټ او یا گډوډ کړی تر یوی میاشتی پوری په حبس او یا تر زرو افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

(۲) شخصیکه بواسطه نصب اعلان، تابلو وامثال آن علایم واشارات ترافیکی را مستور یا مغشوش سازد به حبس الی یك ماه ویا جزای نقدی الی یکهزار افغانی محکوم میگردد.

دوه اویایمه ماده:
که چېری د ښاروالیو، د واټ د

مادۀ هفتادو دوم:
هرگاه کارکنان شاروالی،

WWW.AEL.AF

ساختمانی او د سرکونو د ساتنی او څارنی د مؤسسو کارکوونکی د دغه قانون د اته دیرشمی مادی له احکامونه سرو غړوی، سرغړوونکی تر یوی میاشتی پوری په حبس یا تر دوه زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

مؤسسات ساختمانی جاده ها و حفظ و مراقبت سرك ها از احکام ماده (۳۸) این قانون تخلف بعمل آورند متخلف به حبس الی یك ماه یا جزای نقدی الی دو هزار افغانی محکوم میشود.

دری اویایمه ماده:

(۱) که چېری د نقلیه واسطی چلوونکی داهمال،غفلت بی احتیاطی، د ترافیکی قانون، مقرراتو او یا لوایحونه د سر غړونی په سبب د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د درېیمی فقری دمندرجی درنی ترافیکی پیښی مرتکب شی په هغه حبس چی له شپږو میاشتو نه لږ او له دری کلونو نه زیات نه وی محکومیږی.

مادۀ هفتادو وسوم:

(۱) هرگاه راننده واسطه نقلیه باثر اهمال، غفلت، بی احتیاطی، عدم مراعات قانون، مقررات یا لوایح ترافیکی مرتکب حادثۀ ترافیکی سنگین مندرج فقرۀ (۳) مادۀ (۲۷) این قانون گردد به حبسیکه از شش ماه کمتر واز سه سال بیشتر نباشد محکوم می گردد.

(۲) که چېری ارتکاب شوی عمل له هغو اصولو نه د غټی سرغړونی په سبب واقع شوی وی چی د فن او مسلک له مخی پری لازم وی، مرتکب په متوسط حبس چی له دوه کلونو نه لږ نه وی محکومیږی.

(۲) هرگاه عمل ارتکاب شده از اثر تخطی جسیم از اصولی نشئت کرده باشد که فن ومسلك بروی لازم گردانیده است مرتکب به حبس متوسط که از دوسال کمتر نباشد محکوم می گردد.

(۳) که چېری ارتکاب شوی عمل د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د دوه یمی فقری مندرجه متوسطه پیښه تثبیت شی، مرتکب د احوال سره سم

(۳) در صورتیکه عمل ارتکاب شده حادثه ترافیکی متوسط مندرج فقرۀ (۲) ماده (۲۷) این قانون تثبیت گردد مرتکب حسب احوال به حبس الی یك

WWW.AEL.AF

تر یو کال پوری په حبس یا تر دولس زره افغانیو پوری نغدی جزأ یا په دواړو جزأګانو محکومیږی.

څلور اویایمه ماده:
د دغه قانون د اوه ویشتمی مادی د لومړی فقری مندرجی کوچنی ترافیکی پیښی کښی چی د سپک ټپ یا تر دری زره افغانیو پوری د مالی زیان سبب شی او د پیښی شاملین د موضوع له تعقیب نه تېر شی او د زیان په جبران کولو موافق وی، د ترافیک څارندوی د سر غړوونکی مالی تنبیه ته اقدام کوی او موضوع ته خاتمه ورکوی.

پنځه اویایمه ماده:
څوک چی د ترافیکی پیښی مرتکب شی او له ټپیانو سره له لاڼمی مرستی نه ځان وژغوری، د اصلی پیښی په جزأ بر سېره تر شپږو میاشتو پوری په حبس یا تر شپږ زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

شپږ اویایمه ماده:
که څوک د ترافیکی درنی یا متوسطی پیښی مرتکب شی او د پیښی له ځای نه وتښتی د اجبار د حالت په پام کښی نیولو سره د اصلی پیښی په جزأ بر سېره له شپږو میاشتو نه تر یو کال سال یا جزای نقدی الی دوازده هزار افغانی یا هر دو جزأ محکوم می گردد.

مادۀ هفتادو چهارم:
در حادثۀ ترافیکی کوچك مندرج فقرۀ (۱) مادۀ (۲۷) این قانون که منجر به جرح خفیف یا خسارۀ مالی الی سه هزار افغانی گردیده وشاملین حادثه از تعقیب موضوع صرف نظر وبه پرداخت جبران خساره موافق باشند څارندوی ترافیك به تنبیه مالی متخلف اقدام وبه موضوع خاتمه می دهد.

مادۀ هفتادوپنجم:
شخصیکه مرتکب حادثۀ ترافیکی گردیده واز مساعدت لازم با مجروحین امتناع ورزد علاوه بر جزای اصل حادثه به حبس الی شش ماه یا جزای نقدی الی شش هزار افغانی محکوم می گردد.

مادۀ هفتادو ششم:
شخصیکه مرتکب حادثۀ ترافیکی سنگین یا متوسط گردیده واز محل حادثه فرار نماید با رعایت احوال اجبار علاوه بر جزأی اصل حادثه به حبس شش ماه الی

WWW.AEL.AF

پوری په حبس یا له شپږ زره افغانیو نه تر دولس زره افغانیو پوری په نغدی جزأ محکومیږی.

یـك سال یا جزأی نـقدی شش هزار الـی دوازده هـــزار افغـــانی محکـوم می گردد.

اوه اویایمه ماده:

د نورو قوانینو د احکامو په پام کښی نیولو سره په ترافیکی پیښو کښی لاندی موارد مشدده حالت ګڼل کیږی:

مادۀ هفتاد وهفتم:

با رعایت احکام سایر قوانین موارد ذیـل در حادثـات ترافیکـی حـالت مشدده تلقی میشود:

۱- د چلولو د جواز نه درلودل.

۱- نداشتن جواز رانندگی.

۲- د پیښی له ځای نه تیښته.

۲- فرار از محل حادثه.

۳- د مســکره او مخــدره مــوادو د استعمـال نـه د راولاړی شـوی نشـی پـه حالت کښی دترافیکی پیښی ارتکاب.

۳- ارتــکاب حــادثه تــرافیکی در حالت سکر نـاشی از استعمـال مـواد مسکره و مخدره.

۴- د ټپی سره د لاړمی مرستی نه ځان ژغورنه.

۴- امتنــاع از مســاعدت لازم بــا مجروح.

په دی حــالاتو کــښی مرتکــب د پیشـبینی شـویومجازاتوپه اکثـر حـد محکومیږی.

در ایـن احـوال مرتکـب بحـد اکثـر مجــازات پیش بینی شــده محکوم می گردد.

اته اویایمه ماده:

د نورو قوانینو د احکامو په پام کښی نیولو سره هغه کسان چی د پیښی په ځای کښی موجود وی او د تـوان پـه حدودو کښی لـه ټپی سره لـه لاړمی مرستی نه او د نورو لاړمو مرستو نه ځان وژغوری تر دری میاشتو پوری په

مادۀ هفتادو هشتم:

بـا رعـایت احـکام سـایر قـوانین اشخــاصیکه در محــل حــادثه مــوجود بـوده و از معـاونـت لازم و در حــدود تــوان بــا مجـروح وســایـر کمـك هـای لازم امتنــاع ورزد بـه حــبس الـی ســه مـاه و

WWW.AEL.AF

حبس او تر دری زره افغانیو پوری په نغدی جزأ او یا له دی دواړو نه په یوه محکومیږی.

جزای نقدی الی سه هزار افغانی یا یکی ازین دو جزأ محکوم می گردد.

نهه اویایمه ماده:

(۱) محکمه واک لری چی مرتکب چلوونکی د ټولو نقلیه واسطو یا د هغو د ځینو ډولونو له چلولو له حق نه په دایمی یا مؤقت ډول محروم کړی.

ماده هفتادو نهم:

(۱) محکمه صلاحیت دارد راننده مرتکب را از حق رانندگی تمام یا بعضی از انواع وسایط نقلیه طور دایم یا مؤقت محروم سازد.

(۲) د ترافیکی مقرراتو نه د تخلف د تکرار په صورت کښی تر دری میاشتو پوری دچلولو له حق نه محرومیت د ترافیک د اداری په واک کښی دی.

(۲) در صورت تکرار تخلف از احکام مقررات ترافیکی محرومیت از حق رانندگی الی سه ماه از صلاحیت ادارهٔ ترافیك میباشد.

(۳) د چلولو له حق نه د محرومیت موده د سرغړوونکی د چلولو په جواز کښی لیکل کیږی او د چلولو جواز د نومورې مودی تر تېرېدلو پوری د ترافیک په مربوطه اداره کی قید یږی.

(۳) مدت محرومیت از حق رانندگی در جواز رانندگی متخلف درج وجواز رانندگی تا انقضای مدت مذکور در ادارهٔ ترافیك مربوطه قید میگردد.

اتیایمه ماده:

د ترافیک څارندوی واک لری چی د یو ډول ترافیکی تخلف په مقابل کښی تر پنځه سوه افغانیو پوری د سر غړوونکی مالی تنبیه ته اقدام وکړی.

مادهٔ هشتادم:

څارندوی ترافیك صلاحیت دارد در مقابل یکنوع تخلف ترافیکی الی پنجصد افغانی به تنبیه مالی متخلف اقدام نماید.

د سر غړونی د شمیر د زیاتوالی په صورت کښی د هری سر غړونی په مقابل کی ځانګړی مالی تنبیه صورت

در صورت تعدد تخلف در مقابل هر یك تخلف تنبیه مالی جداگانه بعمل

WWW.AEL.AF

مومی.

له ترافیکی سر غړونو نه راولاړه شوی مالی تنبیه د ترافیکو د څارندوی له خوا په مجموعی ډول له دری زره افغانیو نه زیاتوالی نه کوی.

میآید.

حد اکثر تنبیه مالی توسط څارندوی ترافیك ناشی از تخلفات ترافیکی مجموعاً از سه هزار افغانی تجاوز نمی کند.

دولسم فصل
متفرقه حکمونه

یو اتیایمه ماده:

د وقایوی تدابیرو د نیولو او د جرمی عمل د تعقیبولو په منظور او د معلوماتو د راټولولو او د ترافیکی احصائیو د ترتیب لپاره ترافیکی پیښی د ترافیکو په اداره کښی ثبتیږی.

دوه اتیایمه ماده:

محکمی، ترافیکی اداری اونوری علاقه لرونکی اداری اوحقیقی اشخاص مکلف دی چی لاندی موضوعات دثبت لپاره دمرکزی ترافیک اداری ته په لیکلی ډول خبر ورکړی:

۱- د چلولو د جواز د ډولونو احصائیه چی د ترافیکو د ادارو له خوا توزیع کیږی.

فصل دوازدهم
احکام متفرقه

مادۀ هشتادویکم:

بمنظوراتخاذ تدابیر وقایوی و تعقیب اعمال جرمی وغرض جمع آوری معلومات و ترتیب احصائیه های ترافیکی قضایای ترافیکی در ادارۀ ترافیك مرکزی ثبت می گردد.

مادۀ هشتادو دوم:

محاکم، ادارات ترافیکی و سایر ادارات ذیعلاقه و اشخاص حقیقی مکلف اند موضوعات آتی را غرض ثبت به ادارۀ ترافیك مرکزی کتباً اطلاع نمایند:

۱- احصائیه انواع جواز رانندگی که از طرف ادارات ترافیك توزیع میگردد.

WWW.AEL.AF

۲- د چلولو له حق نه د هغو اشخاصو محرومیت چې د بیا بیا سر غړونو په سبب د ترافیکو د اداری له خوا صورت مومی.

۲- محرومیت از حق رانندگی اشخاصیکه بنابر تخلفات مکرر از طرف ادارهٔ ترافیك صورت می گیرد.

۳- د ترافیکی پیښو احصائیه.

۳- احصائیه حادثات ترافیکی.

۴- د هغو نقلیه واسطو احصائیه چې د ترافیکو د ادارو له خوا ورته د سیر جواز ورکړل شوی دی.

۴- احصائیه وسایط نقلیه ایکه از طرف ادارات ترافیك جواز سیر توزیع گردیده است.

۵- د دولتی ادارو او نورو مؤسسو د نقلیه واسطو احصائیه.

۵- احصائیه وسایط نقلیه ادارات دولتی وسایر مؤسسات.

۶- د نقلیه واسطو تخریب او یا له یو ولایت نه بل ولایت ته د هغو د احصائیی تبدیلی.

۶ - تخریب وسایط نقلیه ویا تبدیلی احصائیه آن از یك ولایت به ولایت دیگر.

۷- د نقلیه واسطو غلا.

۷- سرقت وسایط نقلیه.

۸- د دغه قانون د حکمونو سره سم د ترافیکی موضوعاتو په بنا د محکمو قطعی فیصلی که چېری محکوم علیه په حبس او یا له دری زره افغانیو نه په زیاته نغدی جزأ محکوم شوی وی.

۸- فیصله های قطعی محاکم مبنی بر موضوعات ترافیکی بر طبق احکام این قانون در صورتیکه محکوم علیه به حبس ویا جزای نقدی بیش از سه هزار افغانی محکوم شده باشد.

۹- د چلولو د حق نه د منع کولو یا محرومیت او یا د ماشین لرونکو نقلیه واسطو د خاصو ډولونو د چلولونه د منع کولو په بنا د محکمو قطعی پریکړی.

۹- فیصله های قطعی محاکم مبنی بر منع و یا محرومیت حق رانندگی ویا منع رانندگی انواع خاص وسایط نقلیه موتر دار.

WWW.AEL.AF

دری اتیایمه ماده:
دولتی اداری او مؤسسی د هغو قوانینو، مقراتو او لایحو د طرحی او تنظیم په وخت کښی چی د واټ له ترافیکو سره ارتباط پیدا کوی مکلفی دی چی د مرکزی ترافیک د اداری لیکلی مشورتی نظر په لاس راوړی.

ثلوراتیایمه ماده:
دسیر په جواز،دچلولو په جواز، په سیر او حرکت، د اشخاصو او مالونو په حمل او نقل او د ماشین لرونکو نقلیه واسطو په بیمی پوری مربوطی چاری د ځانګړو مقراتو په واسطه تنظیمیږی.

پنځه اتیایمه ماده:
دغه قانون په رسمی جریده کښی له خپریدلو وروسته نافذیږی او په نافذیدلو سره یی د ۱۳۵۲/۱۱/۱۵ نېټې په رسمي جریده کښی د واټ د ترافیکو خپور شوی قانون او نور هغه قوانین چی د دغه قانون مناقض وی ملغی دی.

مادۀ هشتادوسوم:
ادارات ومؤسسات دولتی موقع طرح وتنظیم قوانین، مقررات و لوایح که با ترافیك جاده ارتباط پیدا میکند مکلف اند نظر مشورتی کتبی اداره ترافیك مرکزی را حاصل نماید.

مادۀ هشتادوچهارم:
سایر امور مربوط به جواز سیر، جواز رانندگی، سیر وحرکت، حمل ونقل اشخاص واموال وبیمه وسایط نقلیه موتر دار توسط مقررات جداگانه تنظیم می گردد.

مادۀ هشتادوپنجم:
این قانون بعداز نشر در جریدۀ رسمی نافذ و با انفاذ آن قانون ترافیك جاده منتشرۀ جریدۀ رسمی ۱۳۵۲/۱۱/۱۵ وسایر قوانینیکه مناقض آن باشد ملغی است.

WWW.AEL.AF

جدول نمبر (۱) منضمه قانون ترافیك جاده
محصولات سالانه ترافیکی

شماره	نوع واسطه نقلیه	ظرفیت	محصول سالانه به افغانی		ملاحظات
			بعدد	به رقم	
۱	موتر تیز رفتار شخصی	پنج چوکی	۱۵۰	یکصدوپنجاه	بشمول دریور پنج چوکی
۲	موتر تیز رفتار اضافه از پنج چوکی	فی چوکی	۱۰	ده	فی چوکی مبلغ ده افغانی به اصل محصول اضافه میشود این موتر ها نیز بر علاوه دریور الی هشت چوکی داشته میتواند.
۳	موتر تیز رفتار تکسی	پنج چوکی	۲۵۰	دوصدوپنجاه	
۴	موتر تیز رفتار تکسی اضافه از پنج چوکی	فی چوکی	۱۰	ده	فی چوکی مبلغ ده افغانی به اصل محصول اضافه میشود این موتر ها نیز بر علاوه دریور الی هشت چوکی داشته میتواند.
۵	تریلر تیز رفتار	فی عراده	۵۰	پنجاه	
۶	موتر واگون (کومبی)	(۹) الی (۱۴) چوکی	۴۰۰	چهارصد	از موترواگون (کومبی) دارای وزن مجموعی مجاز کمتر از یك تن بحساب تیز رفتار محصول اخذ میگردد
۷	موتر واگون (کومبی)	یك الی دوتن	۴۰۰	چهارصد	
۸	موتر های پیکپ باربر	یك الی دوتن	۴۰۰	چهارصد	
۹	موتر های پیکپ مسافر بر	(۹) الی (۱۴) چوکی	۴۰۰	چهار صد	
۱۰	میکروبس	از (۹) الی (۱۴) چوکی	۴۰۰	چهار صد	

WWW.AEL.AF

جدول نمبر (۱) منضمه قانون ترافیك جاده
محصولات سالانه ترافیکی

شماره	نوع واسطه نقلیه	ظرفیت	محصول سالانه به افغانی		ملاحظات
			بعدد	برقم	
۱۱	مینی بس	از (۱۵) الـــی (۲۲) چوکی	۵۰۰	پنجصد	
۱۲	بس	از (۲۳) الـــی (۳۰) چوکی	۶۰۰	ششصد	
۱۳	بس	از (۳۱) الـــی (۴۰) چوکی	۷۰۰	هفتصد	
۱۴	بس	از (۴۱) الـــی (۵۰) چوکی	۸۰۰	هشتصد	
۱۵	بس	از (۵۱) الـــی (۶۰) چوکی	۹۰۰	نهصد	
۱۶	بس	بـالاتر از(۶۰) چـوکی فی چوکی	۱۵	پانزده	فی چوکی (۱۵) افغـانی بـه اصـل محصول بس دارندۀ (۶۰) چوکی اضافه میشود.
۱۷	موتر لاری	اضـافه از(۲) تـن الـی (۳) تن	۵۰۰	پنجصد	
۱۸	موتر لاری	اضـافه از(۳) الـی(۴) تن	۶۰۰	ششصد	
۱۹	موتر لاری	اضـــافه از (۴) الـــی (۵) تن	۷۰۰	هفتصد	
۲۰	موتر لاری	اضـــافه از (۵) الـــی (۶) تن	۷۰۰	هفتصد	
۲۱	موتر لاری	اضـافه از (۶) تـن فـی تن	۱۰۰	یکصد	فـی تـن مبلـغ یکصـد افغـانی بـه محصول شش تن اضافه میشود.
۲۲	تریلـر (ضـمیمه) بـــــا وزن مجموعی مجـاز بـیش از (۷۵۰) کیلو گرام	فی تن	۱۰۰	یکصد	محصـول فـی تـن وزن مجمـوعی مجـاز تریلـر عـلاوه بـر محصـول واسـطه نقلیـه کـش کننـده قابـل تحصیل میباشد.

WWW.AEL.AF

جدول نمبر (۱) منضمه قانون ترافیك جاده
محصولات سالانه ترافیکی

شماره	نوع واسطه نقلیه	ظرفیت	محصول سالانه به افغانی		ملاحظات
			بعدد	برقم	
۲۳	موپید	الی (۵۰) سی سی	۵۰	پنجاه	
۲۴	موتر سایکل بدون کجاوه	اضافه از (۵۰) سی سی الی (۲۵۰) سی سی	۷۰	هفتاد	
۲۵	موتر سایکل بدون کجاوه	بالاتر از (۲۵۰) سی سی	۱۲۰	یکصدوبیست	
۲۶	موتر سایکل کجاوه دار	فی عراده	۱۵۰	یکصدوپنجاه	
۲۷	ریکشا	فی عراده	۲۵۰	دوصدوپنجاه	
۲۸	تراکتور	فی تن	باساس ظرفیت		محصول تراکتور باساس ظرفیت آن فی تن مطابق کته گوری لاریها اخذ میشود.
۲۹	گادی	فی عراده	۱۰۰	یکصد	

WWW.AEL.AF

جدول نمبر (۲) منضمه قانون ترافيك جاده.
محصولات ترافيكی

شماره	نوع واسطه نقليه	مقدرا محصول به افغانی		ملاحظات
		بعدد	برقم	
۱	معاينه تخنيكی سالانه	۵۰	پنجاه	
۲	معاينه تخنيكی خريد وفروش وسايط نقليه	۵۰	پنجاه	
۳	خريد وفروش	۱	يك فيصد	يك فيصداز قيمت معينه اخذ ميشود
۴	وسايط نقليه جديد الورود	۱	يك فيصد	
۵	تخريب وسايط نقليه	۱	يك فيصد	از مجموع قيمت تعيين شده اخذ ميشود.
۶	خريد وفروش واسطه نقليه بين ادارات دولتی	۱	يك فيصد	از قيمت تعيين شده در صورت عدم معافيت از محصولات گمركی
۷	واگذاری واسطه نقليه	۱	يك فيصد	از قيمت تعيين شده در صورت عدم معافيت از محصولات گمركی
۸	اجازه نامه فعاليت لينی (تكس لين)	۴۰۰	چهارصد	
۹	رودپاس – فی روز	۵	پنج	

WWW.AEL.AF

جدول نمبر (۳) منضمه قانون ترافیك جاده.
قیمت اسناد جواز سیر وفورمه های مربوط آن

شماره	نوع سند	قیمت به افغانی		ملاحظات
		بعدد	برقم	
۱	کتابچه جواز سیر	۱۰۰	یکصد	در صورت مفقودی واجرای مثنی قیمت سند وفورمه مجدداً اخذ میگردد
۲	مثنی کتابچه جواز سیر	۱۰۰	یکصد	
۳	فورمه معاینات تخنیکی	۵۰	پنجاه	
۴	فورمه خرید وفروش	۵۰	پنجاه	
۵	کتابچه تکس لین	۱۰۰	یکصد	
۶	رود پاس	۵۰	پنجاه	
۷	کتابچه جواز سیر گادی	۵۰	پنجاه	
۸	کتابچه جواز سیر تراکتور	۱۰۰	یکصد	
۹	کتابچه جواز سیر موتر سایکل	۱۰۰	یکصد	
۱۰	کتابچه جواز سیر ریکشا	۱۰۰	یکصد	
۱۱	نمبر پلیت واسطه نقلیه موتر دار	۲۰۰	دوصد	
۱۲	نمبر پلیت تراکتور	۵۰	پنجاه	
۱۳	نمبر پلیت موتر سایکل	۵۰	پنجاه	
۱۴	نمبر پلیت گادی	۵۰	پنجاه	
۱۵	نمبر پلیت ریکشا	۵۰	پنجاه	

WWW.AEL.AF

جدول نمبر (۴) منضمه قانون ترافیك جاده.
تعیین حد اقل قیمت وسایط نقلیه که خود سرانه تخریب گردیده باشد.

شماره	نوع واسطه نقلیه	قیمت به افغانی		ملاحظات
		بعدد	برقم	
۱	انواع موتر سایکل و ریکشا	۱۰۰۰۰	ده هزار	از قیمت های مندرج این جدول یك فیصد محصول علاوه بر مواخذه معینه اخذ میگردد
۲	انواع تیز رفتار	۳۵۰۰۰	سی وپنجهزار	// // //
۳	انواع میکروبس ومینی بس از (۹) الی (۲۲) چوکی	۵۰۰۰۰	پنجاه هزار	// // //
۴	انواع بس از (۲۳) الی (۶۰) چوکی	۱۰۰۰۰۰	یکصد هزار	// // //
۵	انواع لاری بس وبالاتراز (۶۰) چوکی	۱۵۰۰۰۰	یکصدوپنجاه هزار	// // //
۶	انواع لاری از (۱) الی (۶) تن	۸۰۰۰۰	هشتاد هزار	// // //
۷	انواع لاری از (۶) تن الی (۱۰) تن	۱۰۰۰۰۰	یکصد هزار	// // //
۸	انواع لاری اضافه از (۱۰) تن	۱۵۰۰۰۰	یکصدوپنجاه هزار	// // //

WWW.AEL.AF

جدول نمبر (۵) منضمه قانون ترافیك جاده.
محصول و قیمت اسناد جواز رانندگی.

شماره	نوع واسطه نقلیه	قیمت به افغانی		ملاحظات
		به حروف	برقم	
۱	جواز رانندگی ملی با کارت تخلف	پنجصدو ده	۵۱۰	در ابتداء توزیع باوقایه آن
۲	جواز رانندگی ملی در صورت ارتقاء بدرجه	پنجصدو ده	۵۱۰	با وقایه آن
۳	تجدید جواز رانندگی ملی با کارت تخلف	چهارصدو ده	۴۱۰	با وقایه آن
۴	مثنی جواز رانندگی ملی با کارت تخلف	چهار صدو ده	۴۱۰	با وقایه آن
۵	کارت تخلف	یکصد	۱۰۰	
۶	جواز رانندگی بین المللی	یکهزارو بیست	۱۰۲۰	
۷	جواز کلینری	یکصدو سه	۱۰۳	با وقایه آن
۸	تجدید جواز کلینری	یکصدو سه	۱۰۳	با وقایه آن
۹	مثنی جواز کلینری	یکصدو سه	۱۰۳	
۱۰	فورمه معاینات صحی – امتحان جواز رانندگی ملی وفورمه کلینری	ده	۱۰	
۱۱	فورمه معاینات صحی جواز رانندگی بین المللی	ده	۱۰	

WWW.AEL.AF

WWW.AEL.AF

د نقلیه واسطو د سیر د جواز مقرره

مـقررۀ جـــواز ســیر وسایط نقلــیه

WWW.AEL.AF

WWW.AEL.AF

د عدلیی محترم وزارت ته!

د وزیرانو شورا په (۲۸۲۷) ګڼه پریکړه کښی د ۱۳۶۰/۲/۲۳ نېټې په غونډه کی د عدلیی د وزارت د ۱۳۶۰/۱/۹ نېټې د (۵۵) ګڼی عرض پانې په پام کښی نیولو سره لاندی مراتب تصویب کړل:

"د نقلیه واسطو د سیر د جواز مقرره په (۸۸) مادو کښی منظور ده. په رسمی جریده کښی دی خپره شی."

د وزیرانو شورا د تصویب مراتب چی د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د انقلابی شورا د محترم رئیس له خوا منظور شوی تاسی ته خبر درکړ شو څو چی نوموړی مقرره په رسمی جریده کښی خپره کړئ.

عبدالرشید آرین

د صدارت مرستیال

بوزارت محترم عدلیه !

شورای وزیران تحت فیصله شماره "۲۸۲۷" در جلسهٔ تاریخی ۱۳۶۰/۲/۲۳ با ملاحظهٔ ورقه عرض شماره (۵۵) مؤرخ ۱۳۶۰/۱/۹ وزارت عدلیه مراتب آتی را تصویب نمود:

" مقررهٔ جواز سیر وسایط نقلیه به داخل (۸۸) ماده منظور است در جریدهٔ رسمی نشر گردد."

مراتب تصویب شورای وزیران که به منظوری محترم رئیس شورای انقلابی جمهوری دموکراتیك افغانستان رسیده به شما خبر داده شد تا مقررهٔ مذکور را در جریدهٔ رسمی نشر بدارید.

عبدالرشید آرین

معاون صدارت

WWW.AEL.AF

فهرست مندرجات مقرره جواز سير و سايط نقليه

عنوان	مخ / صفحه	عنوان
لومړی فصل – عمومی حکمونه	۵۱	**فصل اول** – احکام عمومی
دوهم فصل– د سير د جواز او د نمبرپليټ توزيع کول.	۵۸	**فصل دوم** – توزيع جواز سير و نمبر پليت
دريم فصل – په بين المللی ترافيکو کې د شاملو نقليه واسطو اسناد	۶۱	**فصل سوم** – اسناد وسايط نقليه شامل ترافيك بين المللی
څلورم فصل – نمبر پليټ	۶۳	**فصل چهارم**– نمبر پليت
پنځم فصل – د نقليه واسطو تجهيزات او تخنيکی معاينات	۶۸	**فصل پنجم** – تجهيزات وسايط و معاينات تخنيکی
شپږم فصل – د نقليه واسطو احصائيه اخيستل د احصائيی بدلول او د سير د جواز نوی کول	۹۱	**فصل ششم** – احصائيه گيری وسايط نقليه، تبديل احصائيه و تجديد جواز سير
اووم فصل – د نقليه واسطو پلورل او پيرودل	۹۴	**فصل هفتم** – خريد و فروش وسايط نقليه
اتم فصل – د سندونو ترتيب او ساتنه	۹۶	**فصل هشتم** – ترتيب و محافظت اسناد
نهم فصل – تأديبی حکمونه	۹۸	**فصل نهم** – احکام تأديبی
لسم فصل – متفرقه حکمونه	۱۰۲	**فصل دهم** – احکام متفرقه
ضميمه جدولونه	۱۰۵	جداول ضميمه
تعديلونه	۳۱۷، ۳۲۱،۳۲۰	**تعديلات**

WWW.AEL.AF

بسم الله الرحمن الرحیم

د نقلیه واسطو د سیر د جواز مقرره

مقررهٔ جواز سیر وسایط نقلیه

لومړی فصل
عمومی حکمونه

فصل اول
احکام عمومی

لومړی ماده:
دغه مقرره د ترافیکو د قانون (۸۴) مادی د حکم په اساس وضع شوی او د نقلیه واسطو د سیر په جواز پوری مربوطی چاری تنظیموی.

مادهٔ اول:
این مقرره باساس حکم مادهٔ (۸۴) قانون ترافیك جاده وضع وامور مربوط به جواز سیر وسایط نقلیه را تنظیم می نماید.

دوه یمه ماده:
د دی مقرری په مقصد د سیر جواز هغه بیه لرونکی سند دی چه د نقلیه واسطومشخصات پکښی درج او د ټاکلو محصولاتو له ورکړی او د نقلیه واسطی د تخنیکی امنیت نه د ډاډ له لاس ته راوړلونه وروسته د هغی د مالک په نامه صادر او په عامه واټ باندی د نقلیه واسطو سیر او حرکت ته اجازه ورکوی. د دی مقرری د لومړی ګڼی ضمیمی سره سم.

مادهٔ دوم:
جواز سیر به مقصد این مقرره سند بهاداریست که مشخصات وسایط نقلیه در آن درج و بعد از تادیهٔ محصولات مقرره و حصول اطمینان از امنیت تخنیکی وسایط نقلیه بنام مالك آن صادر وسیر وحرکت وسایط نقلیه را بالای جادهٔ عامه اجازه میدهد. مطابق ضمیمه نمبر (۱) این مقرره.

درپیمه ماده:
په دی مقرره کښی لاندی اصطلاحات لاندنی معناوی لری:

مادهٔ سوم:
اصطلاحات آتی درین مقرره معانی ذیل را دارا می باشد:

WWW.AEL.AF

۱- په اکسل باندی مجاز وزن:
هغه وزن چی د ټاکلی اکسل په واسطه د واټ په مخ د ټایر په واسطه انتقالیږی او د دی مقرری د احکامو سره سم مجاز قبول شوی وی.

۱- وزن مجاز بالای اکسل:
وزنی که توسط اکسل معین بالای سطح جاده توسط تایر انتقال می یابد ومطابق احکام این مقرره مجاز قبول شده باشد.

۲- واحد اکسل:
هغه اکسل چی د عرادی وزن په دوه یا زیاتو موازی ټایرونو سره تقسیموی او د هغو مرکزونه هغه خط قرار مومی چی د عرادو تر منځ خط باندی عمودی وی.

۲- اکسل واحد:
اکسلیکه وزن عراده را بالای دو ویا زیاده تایرهای موازی بهم تقسیم نموده ومراکز آنها یك خطی که بالای خط میان عراده عمودی باشد قرار میگیرد.

۳- جوړه اکسل (دبل اکسل):
د دوه واحدو اکسلونو مجموعه چی له یو بل څخه یی مرکزی فاصله له ۱/۲۲ مترونو څخه زیاته نه وی.

۳- اکسل جوره ای (دبل اکسل):
مجموعه از دو اکسل واحد که فاصلهٔ مرکزی آنها از همدیگر از (۱/۲۲) متر زیاد تر نباشد.

۴- د نقلیه واسطی حقیقی وزن (د محمولی سره د عرادی وزن):
له محمولی (بار، سورلی او عملی) سره د یوی نقلیه واسطی حقیقی وزن چی د ټایرونو په واسطه د واټ په مخ انتقال ورکول کیږی.

۴- وزن حقیقی واسطه نقلیه (وزن عراده با محمولهٔ آن):
وزن حقیقی یك واسطه نقلیه با محمولهٔ آن (بار، راکب وعمله) که توسط تایر ها به سطح جاده انتقال داده میشود.

۵- د نقلیه واسطی خالص وزن:
له بار او سورلی نه پرته د نقلیه واسطی وزن د ټول بکس د سامان احتیاطی ټایر او د سونګ د موادو په ګډون.

۵- وزن خالص واسطه نقلیه:
وزن واسطه نقلیه به شمول سامان تول بکس، تایر احتیاطی ومواد سوخت آن بدون بار وراکب.

WWW.AEL.AF

۶- د محمولی خالص تول:
د عرادی له خالص تول نه پرته د بار تول.

۶- وزن خالص محموله:
وزن بار بدون وزن خالص عراده.

۷- بایسکل:
هغه نقلیه واسطه چی لږ تر لږه دوه څرخه ولری او د انسان د قوی له خوا (د پایډل او یا لاس په ذریعه) په خوځیدو راوستل کیږی.

۷- بایسکل:
واسطه نقلیه ایکه حد اقل دارای دو چرخ بوده وبواسطه قوای انسان (ذریعهٔ پایدل ویا دست) بحرکت آورده میشود.

۸- موټر سایکل:
هغه دوه عرادی والا ماشین لرونکی عراده چی کجاوه والا هم کېدلای شی.

دری عرادی والا نقلیه واسطه (ریکشا) هم په دغه تعریف کښی شامل دی.

۸- موتر سایکل:
واسطه نقلیه موتر دار دو عراده ای که دارای کجاوه نیز بوده می تواند.

واسطه نقلیه سه عراده ای (ریکشا) نیز شامل این تعریف می باشد.

۹- موپید:
هغه بایسکل چی تر (۵۰) مکعب ساتنی مترو ظرفیت پوری ماشین او په ساعت کښی (۴۰) کیلو متره اعظمی سرعت ولری.

۹- موپید:
بایسکل ایست که دارای انجن با ظرفیت الی (۵۰) سانتی متر مکعب وسرعت اعظمی (۴۰) کیلو متر فی ساعت می باشد.

۱۰- ګرندی موټر:
هغه څلور عرادی والا ماشین لرونکی نقلیه واسطه چی په چلوونکی بر سپره له پنځو نه تر اتو یونفری چوکی ولری او د اشخاصو د حمل او نقل لپاره ورنه ګټه اخیستل کیږی.

۱۰- تیز رفتار:
واسطه نقلیه موتر دار چهار عراده ایکه بر علاوه دریور از پنج چوکی الی هشت چوکی یکنفری داشته وغرض حمل ونقل اشخاص مورد استفاده قرار می گیرد.

WWW.AEL.AF

۱۱- ټکسی:
هغه ګړندی څلور دروازی والا موټرونه چی مشخص رنګ او علامی ولری او په ټکسی میتر باندی سمبال وی او د ټاکلی کرایی په مقابل کښی د اشخاصو د حمل او نقل لپاره په کار اچول کیږی.

۱۲- میکرو بس:
هغه ماشین لرونکی نقلیه واسطه چه له (۹) نه تر (۱۴) پوری یو نفری چوکی ولری او د اشخاصو د حمل او نقل لپاره پکاریږی.

۱۳- مینی بس:
هغه ماشین لرونکی نقلیه واسطه چی له (۱۵) نه تر (۲۲) پوری یو کسیزی چوکی ولری او د اشخاصو د حمل او نقل لپاره پکاریږی.

۱۴- بس:
هغه ماشین لرونکی نقلیه واسطه چی د چلوونکی په ګډون له (۲۲) یو کسیزو چوکیو نه زیاتی ولری او د ټاکلی کرایی د ورکړی په مقابل تر استفادی لاندی راځی.

۱۵- واګون (کومبی):
هغه ماشین لرونکی نقلیه واسطه چی د خپل جوړښت په اساس د اشخاصو یا

۱۱- تکسی:
موتر های تیز رفتار چهار دروازهٔ که برنگ و علایم مشخص و مجهز با تکسی میتر بوده و غرض حمل و نقل اشخاص درمقابل تادیه کرایه معینه بکار انداخته میشود.

۱۲- میکروبس:
واسطه نقلیه موتر دار که از (۹ الی ۱۴) چوکی یکنفری داشته و غرض حمل و نقل اشخاص بکار می رود.

۱۳- مینی بس :
واسطه نقلیه موتر داریکه از (۱۵ الی ۲۲) چوکی یکنفری داشته غرض حمل و نقل اشخاص بکار می رود.

۱۴- بس:
واسطه نقلیه موتر داریکه بشمول راننده دارای بیش از (۲۲) چوکی یکنفری بوده برای حمل ونقل اشخاص در مقابل تادیهٔ کرایه معینه مورد استفاده قرار می گیرد.

۱۵- واګون (کومبی):
واسطه نقلیه موتر داریکه نظر به ساختمان آن برای حمل و نقل

WWW.AEL.AF

مالونو د حمل او نقل لپاره ور څخه استفاده کیږی. که چیری د اشخاصو د حمل او نقل لپاره استعمال شی د چلوونکی په ګډون له (۹) څخه تر (۱۴) پوری یو کسیزی چوکی لری او که چیری ترلی بادی (بی کړکیو) ولری د مالونو د حمل او نقل لپاره استعمالیږی. له (۱-۲) ټنو پوری مجموعی تول لری.

اشخاص یا اموال استفاده می شود. در صورتیکه بمنظور حمل و نقل اشخاص استعمال گردد به شمول راننده از (۹) الی (۱۴) چوکی یکنفری داشته وهر گاه دارای بادی بسته بدون کلکین باشد غرض حمل ونقل اموال استعمال گردیده دارای وزن مجموعی مجاز از (۱-۲) تن می باشد.

۱۶- پیکپ:

هغه ماشین لرونکی نقلیه واسطه چی د چلوونکی په ګډون له (۳) تر (۶) کسیزیو کابین یا سیټ ولری مجموعی مجاز وزن یی له (۱ نه تر ۲) ټنو پوری وی اودخپل جوړښت په اساس د مالونو د حمل او نقل لپاره پکاریږی.

۱۶- پیکپ:

واسطه نقلیه موتر داریکه دارای یك کابین یاسیت (۳) الی (۶) نفری بشمول راننده وزن مجموعی مجاز آن (۱) الی (۲) تن بوده ونظر به ساختمان آن برای حمل ونقل اموال بکار برده می شود.

که چیری د اشخاصو د حمل او نقل لپاره استعمال شی د خاصو ساختمانی شرایطو (د بادی، سیټ او داسی نورو له نظره) لاندی راځی او د ترانسپورت د اداری د موافقی له لاس ته راوړلو او د ګمرکی محصول د تفاوت له ورکړی وروسته له (۹) تر (۱۴) پوری یو کسیزی چوکی، ترپال والا انګلارن، بادی او ټینګ پایدان پکښی نصبیږی.

هرگاه برای حمل ونقل اشخاص استعمال شود تحت شرایط خاص ساختمانی (از نظر بادی، سیت و امثال آن) قرار گرفته وبعد از اخذ موافقه اداره ترانسپورت وتادیه تفاوت محصول گمرکی (۹) الی (۱۴) چوکی یکنفری، انګلارن ترپالدار، بادی وپایدان مستحکم در آن نصب می گردد.

WWW.AEL.AF

۱۷- بار وړونکی (لاری):
هغه ماشین لرونکی نقلیه واسطه چی د خپل ساختمان په اساس د مالونو د حمل او نقل لپاره استعمالیږی او له دوه ټنو نه زیات مجموعی مجاز تول لری.

۱۷- باربر (لاری):
واسطه نقلیه موتر داریکه نظر به ساختمان آن بمنظور حمل ونقل اموال استعمال شده ودارای وزن مجموعی مجاز بیش از (۲) تن می باشد.

۱۸- د ټریلر سره ټرلی مخصوصه نقلیه واسطه (لوبای):
هغه ماشین لرونکی نقلیه واسطه چی ټریلر (ضمیمه عراده) یی په وروستی اکسل باندی په متحرک شکل ټرل کیږی او پوره ټینګښت ولری.

۱۸- واسطه نقلیه مخصوص بسته باتریلر (لوبای):
واسطه نقلیه موتر داریکه تریلر (عراده ضمیمه) بالای اکسل عقبی آن بشکل متحرك بسته شده و استحکام کافی داشته باشد.

څلورمه ماده:
ماشین لرونکی نقلیه واسطی (ګرندی موټر، بس، برقی بس لاری، ټریلر والا موټرونه (ضمیمه لرونکی)، موټر سایکل، ریکشا، ټراکتور) او بی ماشینه ثقلیه واسطه لکه ګاډی د سیر د جواز او نمبر پلیټ له درلودلونه پرته په عامه واټ باندی د سیر او حرکت حق نه لری. د ګاډی د سیر جواز د دی مقرری د دوهمی ګڼی ضمیمی سره سم دی.

مادۀ چهارم:
وسایط نقلیه موتر دار (تیز رفتار، بس، بس برقی، لاری، موتر های تریلر دار (دارای ضمیمه) موتر سایکل، ریکشا، تراکتور) و واسطه نقلیه غیر موتر دار مانند ګادی بدون داشتن جواز سیر ونمبر پلیټ حق سیر وحرکت را بالای جاده های عامه ندارد. جواز سیر ګادی مطابق ضمیمۀ نمبر (۲) این مقرره می باشد.

پنځمه ماده:
د نقلیه واسطی خاوندان مکلف دی چی د ګمرکی محصول او نورو دولتی

مادۀ پنجم:
مالکین واسطه نقلیه مکلف اند بعد پرداخت محصول ګمرکی و

WWW.AEL.AF

تادیاتو له ورکړی نه وروسته مربوط اسناد د سیر د جواز د ثبتولو او اجرأ په منظور په لسو ورځو کښی دننه د ترافیکو اداری ته حاضر کاندی.

شپږمه ماده:

د سیر د جواز د اجرأ په منظور د ترافیکو په اداره کښی د نقلیه واسطو ثبت دګمرک د اداری په لیکلی استیذان چی د ګمرک د واکمن آمر په لاسلیک او د ګمرک په رسمی مهر ښکلی شوی وی صورت مومی. د نقلیه واسطودواګذاری په صورت کښی هم دغه مراتب په پام کښی نیول کیږی.

اوومه ماده:

د اسنادو له ثبتولو نه د مخه د نقلیه واسطو تخنیکی معاینه د ټولو تخنیکی مشخصاتو په پام کښی نیولو سره د تخنیکی معاینی د فورمی په مخ د دی مقرری د درېیمی ګڼی ضمیمی سره سمه صورت مومی.

اتمه ماده:

د نقلیه واسطو د سیر د جواز د اعتبار موده یو کال ده او په متن کښی یی لیکل کیږی.

سایر تادیات دولتی اسناد مربوط را در ظرف ده یوم غرض ثبت واجرای جواز سیر به ادارۀ ترافیك حاضر دارند.

مادۀ ششم:

ثبت وسایط نقلیه در ادارۀ ترافیك بمنظور اجرای جواز سیر به استیذان کتبی ادارۀ گمرك که مزین به امضای آمر صلاحیتدار و مهر رسمی گمرك باشد صورت می گیرد. در صورت واگذاری وسایط نقلیه نیز این مراتب رعایت می گردد.

مادۀ هفتم:

قبل از ثبت اسناد، معاینه تخنیکی وسایط نقلیه توسط هیت فنی با در نظر داشت تمام مشخصات بروی فورمۀ معاینه تخنیکی مطابق ضمیمه نمبر (۳) این مقرره صورت میگیرد.

مادۀ هشتم :

میعاد اعتبار جواز سیر وسایط نقلیه یکسال بوده و در متن آن درج می گردد.

WWW.AEL.AF

دوه یم فصل
د سیر د جواز او د نمبر پلیټ توزیع کول

نهمه ماده:
د نقلیه واسطو د سیر جواز او د نمبر پلیټ توزیع په هغه صورت کښی اجرأ کیږی چی د نقلیه واسطی خاوند د دی مقررری د پنځمی او اوومی مادی حکمونه تطبیق کړی وی. د مالک هویت د تابعیت د تذکری او یا د هویت دنوروسندونوله مخی تثبیتیږی.

لسمه ماده:
(۱) د دولتی ادارو نقلیه واسطی د دولتی اداری د مؤظفیت په ساحه کښی او شخصی نقلیه واسطی د مالک په دایمی یا مؤقتی استوګنځی کښی د ثابتی پتی په پام کښی نیولو سره په دفتر کښی ثبتیږی.

(۲) د وسله وال پوځ د نقلیه واسطو د سیر د جواز او نمبر پلیټ د ثبت، توزیع چاری د ملی دفاع د وزارت د مربوطی اداری له خوا صورت مومی.

یوولسمه ماده:
د نقلیه واسطی ضمایم د نقلیه واسطی سره یو ځای په دفتر کښی ثبتیږی او ځانګړی نمبر پلیټ نه ورکول کیږی.

فصل دوم
توزیع جواز سیر و نمبر پلیت

مادۀ نهم:
جواز سیر و توزیع نمبر پلیت وسایط نقلیه در صورتی اجرأ میگردد که مالك واسطه نقلیه احکام مندرج مواد پنجم و هفتم این مقرره را تطبیق نموده باشد. هویت مالك برویت تذکره تابعیت و یا سایر اسناد هویت تثبیت می گردد.

مادۀ دهم:
(۱) وسایط نقلیه ادارات دولتی در ساحۀ مؤظفیت ادارۀ دولتی و وسایط نقلیه شخصی در محل سکونت دایمی یا مؤقتی مالك با درنظر داشت آدرس ثابت ثبت دفتر می گردد.

(۲) امور مربوط به ثبت، توزیع جواز سیر ونمبر پلیت وسایط نقلیه قوای مسلح توسط ادارۀ مربوطه وزارت دفاع ملی صورت میگیرد.

مادۀ یازدهم:
ضمایم واسطه نقلیه با واسطه نقلیه یکجا ثبت دفتر گردیده ونمبر پلیت جداگانه برای آنها توزیع نمی گردد.

WWW.AEL.AF

دولسمه ماده:

د دوستو دولتونو او ملګرو ملتونو سیاسي نمایندګان او د بهرنیو هېوادونو نور مستخدمین چې د ګمرکي محصولاتو د معافیت له امتیاز نه ګټه اخلي خپلې نقلیه واسطې دي د بهرنیو چارو د وزارت په لیکلي استیذان د مالیې د وزارت د ګمرکاتو د ریاست له لارې د ترافیکو اداري ته حاضري کړي او د ملکیت د بدلون په صورت کښې هم دغه اجراآت په پام کښې نیول کیږي.

مادۀ دوازدهم:

نمایندګان سیاسی دول متحابه و ملل متحد و سایر مستخدمین دول خارجی که از امتیاز معافیت محصولات ګمرکی برخوردارند وسایط نقلیه خویش را به استیذان کتبی وزارت امور خارجه از طریق ریاست ګمرکات وزارت مالیه غرض ثبت به ادارۀ ترافیك حاضر نموده ودر صورت تبدیل ملکیت نیز این اجراآت رعایت می گردد.

دیارلسمه ماده:

(۱) هرې ماشین لرونکې نقلیه واسطې ته دوه نمبر پلیټه ورکول کیږي چې یو یې د نقلیه واسطې په مخ کې او بل یې په وروستي برخه کښې په ټاکلې ځای کښې نصبیږي.

مادۀ سیزدهم:

(۱) برای هر واسطه نقلیه موتر دار دو عدد نمبر پلیت که یکی آن در پیشروی و دیگر آن در عقب واسطه نقلیه در محل معینه نصب می شود توزیع می گردد.

(۲) زراعتي ټراکتورونو، موټر سایکلونو، ریکشا او ګاډی ته یوائې یو نمبر پلیټ ورکول کیږي او د ټریلر والا نقلیه واسطې وروستي نمبر پلیټ د هغې د ټریلر شاته نصبیږي.

(۲) برای تراکتور های زراعتی، موتر سایکل، ریکشا وګادی صرف یکعدد نمبر پلیت توزیع ونمبر پلیت عقبی واسطه نقلیه تریلر دار در عقب تریلر آن نصب میشود.

(۳) نمبر پلیټ باید پاک او د لوستلو وړوی ګډوډ، وران او ټوټل کیږي دی نه.

(۳) نمبر پلیت باید پاك وخوانا بوده مغشوش، گل و تراش و پوشانده نشود.

WWW.AEL.AF

څوار لسمه ماده:

هغو نقليه واسطو ته چې له بهر نه واردیږي، د سرحدی ګمرک د اداری په لیکلی معرفی د ترافیکو د اداری له خوا د مرجع د ګمرک تر سیمی پوری ترانزیت نمبر پلیټ ورکول کیږی.

د دوه ولایتونو تر منځ د نقلیه واسطو د احصائیی د بدلون په صورت کښی هم د ترانزیت نمبر پلیټ نه استفاده کیږی.

پنځلسمه ماده:

(۱) له بهرنه د نقلیه واسطی د راوستلو په صورت کښی د مرجع تر ګمرک پوری ترانزیت نمبر پلیټ شل ورځی اعتبار لری.

(۲) ترانزیت نمبر پلیټ د دی مقرری د څوارلسمی مادی د مندرج حکم مطابق د ګمرکی محصول له ورکولو نه وروسته لس ورځی اعتبار لری او د ټاکلی مودی له تېرېدلونه وروسته نومورې نمبر پلیټ د مربوط ترافیک اداری ته تحویلیږی او له منځه وړل کیږی.

(۳) د معقول عذر (ناڅاپی تخنیکی نیمګړتیا، ترافیکی پیښی، ناڅاپی پیښی او داسی نورو) په صورت کښی د دی مادی په لومړی فقری کښی یاده

مادۀ چهاردهم:

برای وسایط نقلیه که از خارج وارد میشود به معرفی کتبی ادارۀ گمرک سرحدی از ادارۀ ترافیک نمبر پلیت ترانزیت الی محل گمرک مرجع توزیع میشود.

در حال تبدیل احصائیه وسایط نقلیه بین دو ولایت نیز از نمبر پلیت ترانزیت استفاده می گردد.

مادۀ پانزدهم:

(۱) نمبر پلیت ترانزیت در صورت ورود واسطه نقلیه از خارج الی گمرک مرجع (۲۰) روز اعتبار دارد.

(۲) نمبر پلیت ترانزیت بعد پرداخت محصول گمرکی مطابق حکم مندرج مادۀ (۱۴) این مقرره مدت ده یوم اعتبار داشته و بعد از سپری شدن میعاد معینه نمبر پلیت مذکور به ادارۀ ترافیک مربوطه تحویل ومحو ساخته میشود.

(۳) در حال عذر معقول (نقیصه تخنیکی غیر قابل پیش بینی، حادثات ترافیکی حوادث غیر مترقبه وامثال آن) میعاد متذکره

WWW.AEL.AF

شوی موده د سیمی د آمر لاسلیک او تصدیق او د مربوطی اداری په مهر اوږدیدلای شی.

فقرۀ (۱) این ماده به امضا وتصدیق آمر محل مهر ادارۀ مربوطه تمدید شده می تواند.

درېیم فصل
په بین المللی ترافیکو کښی د شاملو نقلیه واسطو اسناد

فصل سوم
اسناد وسایط نقلیه شامل ترافیك بین المللی

شپاړسمه ماده:
د هغی ماشین لرونکی نقلیه واسطی خاوند چی له هېواد نه د باندی سفر کوی د خپلی نقلیه واسطی د سیر جواز او نمبر پلیټ د مربوط ترافیک اداری ته تحویلوی او د سیر اجازه (روډ پاس) مخصوص نمبر پلیټ او د ملیت علامه په لاس راوړی د ملیت علامه په بیضوی شکل ده، د هغی د متن رنګ سپین او څنډی یی تور خطونه لری او توری یی (AFG) هم په تور رنګ دی.

مادۀ شانزدهم:
مالك واسطه نقلیه موتر داریکه بخارج کشور سفر می نماید جواز سیر ونمبر پلیت واسطه نقلیه خود را به ادارۀ ترافیك مربوطه تحویل داده واجازه نامه سیر (رود پاس) نمبر پلیت مخصوص وعلامه ملیت را حاصل می دارد. علامه ملیت بشکل بیضوی، رنگ متن آن سفید وکنار آن دارای خطوط سیاه وحروف آن (AFG) نیز برنگ سیاه می باشد.

اوه لسمه ماده:
(۱) د سیر اجازه نامه (روډ پاس) مخصوص نمبر پلیټ او د ملیت علامه په داسی حال کښی توزیع کیږی چی چلوونکی پاسپورټ او بهرته د تللو اجازه ولری او د مربوطو مراجعو له خوا معرفی شوی وی.

مادۀ هفدهم:
(۱) اجازه نامه سیر (رود پاس) نمبر پلیت مخصوص وعلامۀ ملیت در حالی توزیع می گردد که راننده پاسپورت واجازه سفر بخارج را داشته واز طریق مراجع مربوطه معرفی شده باشد.

(۲) روډ پاس د دی مقرری د ضمیمی د نولسمی ګڼی نمونی سره سم

(۲) رود پاس مطابق نمونۀ نمبر (۱۹) ضمیمۀ این مقرره

WWW.AEL.AF

توزیع کیږی.

اتلسمه ماده:

هغه وخت چی چلوونکی د خپلی نقلیه واسطی سره له بهرنه بیرته راځی، د سیر اجازه نامه (روډ پاس) او مخصوص نمبر پلیټ په لسو ورځو کښی د مربوط ترافیک اداری ته تحویلوی او اصلی جواز سیر او نمبر پلیټ په لاس راوړی.

نولسمه ماده:

(۱) د سیر د اجازه نامی (روډ پاس) د اعتبار موده د پاسپورټ د مندرجی ویزی له مودی سره سمه د هغی په متن کښی د ترافیک د اداری له خوا لیکل کیږی.

(۲) د ویزی د مودی د اوږدیدلو یا د معقول عذر (نا څاپی تخنیکی نیمګړتیا، ترافیکی پیښی، ناڅاپی پیښی او داسی نورو) د موجودیت په صورت کښی په اجازه نامه (روډ پاس) کښی لیکله شوی زیاته موده په بهر کښی د افغانی سیاسی نمایندګیو او یا نورو نمایندګیو په تصدیق د اعتبار وړ ده.

توزیع میگردد.

مادۀ هجدهم:

موقعیکه راننده با واسطه نقلیه اش از خارج عودت می نماید، اجازۀ نامه سیر (رود پاس) و نمبر پلیت مخصوص را در ظرف ده یوم به ادارۀ ترافیك مربوطه تحویل و جواز سیر ونمبر پلیت اصلی را حاصل میدارد.

مادۀ نزدهم:

(۱) میعاد اعتبار اجازه نامه سیر (رود پاس) مطابق میعاد اعتبار ویزه مندرجۀ پاسپورت، در متن آن توسط ادارۀ ترافیك درج می گردد.

(۲) در صورت تمدید میعاد ویزه یا موجودیت عذر معقول (نقیصه تخنیکی غیر قابل پیش بینی، حادثات ترافیکی، حوادث غیر مترقبه وامثال آن) میعاد اضافی مندرج اجازه نامۀ سیر (رودپاس) به تصدیق نمایندگی سیاسی ویا سایر نمایندگی های افغانی مقیم خارج مدار اعتبار میباشد.

WWW.AEL.AF

څلورم فصل
نمبر پلیټ

شلمه ماده:

د ماشین لرونکو نقلیه واسطو (ګرندی موټر، بس، لاری) د نمبر پلیټ اندازه چی د لوحی په بڼه اعمالیږی (۱۱۰×۴۶۰) ملی متره ابعاد لری او د موټر سایکل، تراکتور، ګاډی او ریکشا نمبر پلیټ (۱۲۰ × ۱۷۰) ملی متره د دی مقرری له (۴- ۵- ۶) او (۷-۸) ګڼو ضمیمو سره سم دی.

یو ویشتمه ماده:

د نقلیه واسطو نمبر پلیټ د هغو له ډول سره سم په ډول ډول رنګونو په لاندی ډول توزیع کیږی:

۱- د سیاسی نمایندګانو د نقلیه واسطو د نمبر پلیټ د متن رنګ سور حروف یی(CD) اواعدادیی سپین دی.

د دی مقرری د نهمی ګڼی ضمیمی سره سم.

۲- په هېواد کښی د ملګرو ملتونو د نمایندګانو د نقلیه واسطو د نمبر پلیټ د متن رنګ آسمانی حروف (UN) او اعداد یی سپین دی. د دی مقرری د لسمی ګڼی ضمیمی سره سم.

فصل چهارم
نمبر پلیت

مادۀ بیستم:

اندازۀ نمبر پلیت وسایط نقلیه موتر دار (تیز رفتار، بس، لاری) که بشکل لوحه اعمال میشود دارای ابعاد (۱۱۰×۴۶۰) ملی متر وبرای موتر سایکل، تراکتور، گادی و ریکشا (۱۲۰ × ۱۷۰) ملی متر مطابق ضمایم نمبر (۴-۵-۶) ونمبر (۷-۸) این مقرره می باشد.

مادۀ بیست ویکم:

نمبر پلیت وسایط نقلیه مطابق به نوع آن برنگ های مختلف حسب آتی توزیع میگردد:

۱- برای وسایط نقلیه نمایندگان سیاسی، رنگ متن نمبر پلیت سرخ، حروف (CD) واعداد آن سفید.

مطابق ضمیمۀ نمبر (۹) این مقرره.

۲- برای وسایط نقلیه اعضای ملل متحد مقیم کشور، متن نمبر پلیت برنگ آبی حروف (UN) اعداد آن سفید. مطابق ضمیمه نمبر (۱۰) این مقرره.

WWW.AEL.AF

۳- د بهرنیو مستخدمینو د نقلیه واسطو د نمبر پلیټ د متن رنګ شین حرف یی (M) او اعداد یی په سپین رنګ دی.

۳- برای وسایط نقلیه مستخدمین خارجی، رنگ نمبر پلیت سبز حرف (M) واعداد آن برنگ سفید.

د دی مقرری د یوولسمی ګڼی ضمیمی سره سم.

مطابق ضمیمه نمبر (۱۱) این مقرره.

۴- د (بس او لاری) په ګډون د دولتی نقلیه واسطو د نمبر پلیټ متن تور، توری او اعداد یی سپین او په (=) دولتی علامی ښکلی شوی او پرله پسی نمری یی په ځانګړی ډول تنظیمیږی.

۴- برای وسایط نقلیه دولتی (بشمول بس ولاری) رنگ متن نمبر پلیت سیاه وحروف واعداد آن سفید وبا علامه دولتی (=) مزین بوده نمرات مسلسل آن طور جداگانه تنظیم میشود.

د دی مقرری د (۱۳- ۱۴- ۱۵) ګڼی ضمیمی سره سم.

مطابق ضمیمه نمبر (۱۳-۱۴-۱۵) این مقرره.

۵- د شخصی نقلیه واسطو د نمبر پلیټ متن سپین توری او اعداد یی تور او د عرادی د ډول په اساس پکښی د (ر) (ش) (ل) او (ت) (بس) توری زیاتیږی.

۵- برای وسایط نقلیه شخصی، متن نمبر پلیت سفید حروف واعداد آن سیاه وحروف (ر) (ش) (ل) و (ت) (بس) نظر به نوعیت عراده به آن تزئید می شود.

۶- د موټر سایکل لپاره د دی مقرری ضمیمه اوومی ګڼی نمونی سره سم مخصوص نمبر پلیټ.

۶- برای موتر سایکل نمبر پلیت مخصوص مطابق نمونه نمبر (۷) ضمیمه این مقرره.

۷- ریکشا ته د دی مقرری د اتمی ګڼی ضمیمی سره سم د (ر) نمبر پلیټ.

۷- برای ریکشا نمبر پلیت (ر) مطابق ضمیمه نمبر (۸) این مقرره.

WWW.AEL.AF

۸- شخصی ګړندی موټر ته د (ش) نمبر پلیټ د دی مقرری د څلورمی ګڼی ضمیمی سره سم.

۸- برای تیز رفتار شخصی نمبر پلیت (ش) مطابق ضمیمه نمبر (۴) این مقرره.

۹- ټکسی ته د (ت) نمبر پلیټ د دی مقرری له دولسمی ګڼی ضمیمی سره سم.

۹- برای تکسی نمبر پلیت (ت) مطابق ضمیمه نمبر (۱۲) این مقرره.

۱۰- میکرو بس، مینی بس او بس ته د (بس) نمبر پلیټ د دی مقرری د پنځمی ګڼی ضمیمی سره سم.

۱۰- برای میکروبس، مینی بس، وبس نمبر پلیت (بس) مطابق ضمیمه نمبر (۵) این مقرره.

۱۱- واګون (کومبی) ته د استعمال د هدف په اساس د (ش) یا (ل) او یا بس نمبر پلیټ، د دی مقرری د څلورمی، پنځمی او شپږمی ګڼی ضمیمی سره سم.

۱۱- برای واګون (کومبی) نظر به هدف استعمال نمبر پلیت (ش) یا (ل) ویا بس مطابق ضمایم نمبر (۴-۶-۵) این مقرره.

۱۲- پیکپ ته د مالونو د حمل او نقل لپاره د استعمال په صورت کښی د (ل) نمبر پلیټ او د اشخاصو د حمل او نقل په صورت کښی د بس نمبر پلیټ د دی مقرری د شپږمی او پنځمی ګڼی ضمیمی سره سم.

۱۲- برای پیکپ در صورت استعمال غرض حمل ونقل اموال نمبر پلیت (ل) ودر صورت حمل و نقل اشخاص نمبر پلیت (بس) مطابق ضمایم نمبر (۶) ونمبر (۵) این مقرره.

۱۳- بار وړونکی (لاری) او په ټریلر پوری ټرلو مخصوصو موټرونو (لوبای) ته د دی مقرری د شپږمی ګڼی ضمیمی سره سم د (ل) نمبر پلیټ.

۱۳- برای باربر (لاری) وموتر های مخصوص بسته با تریلر (لوبای) نمبر پلیت (ل) مطابق ضمیمهٔ نمبر (۶) این مقرره.

WWW.AEL.AF

د رابنکونکی نقلیه واسطی نمبر پلیټ په ټریلر (ضمیمی) کی نصبیږی.

در تریلر (ضمیمه) نمبر پلیت واسطه نقلیه کش کننده نصب می شود.

دوه ویشتمه ماده:

(۱) د نمبر پلیټ اعداد له (۱) نه تر (۹) پوری ترتیب شوی او د هغو د ګڼی تسلسل له (۱۱۱) نه پیل او تر (۹۹۹۹۹) پوری بی له صفر نه دوام کوی. که چیری د نقلیه واسطو احصائیه له دی رقم نه زیاته شی د (۲-۳) د عددونو په زیاتولو او له هغه نه زیات د (۱۱۱- ۲) په شکل تر (۹۹۹۹۹-۲) او له (۱۱۱- ۳) نه تر (۹۹۹۹۹-۳) پوری ترتیب او تنظیمیږی.

مادۀ بیست ودوم:

(۱) اعداد نمبر پلیت از (۱) الی (۹) ترتیب شده وتسلسل شماره آن از (۱۱۱) شروع و الی (۹۹۹۹۹) بدون صفر دوام می نماید. در صورتیکه احصائیه وسایط نقلیه بیش ازین رقم گردد با ازدیاد اعداد (۲-۳) و بیش از آن بشکل (۱۱۱-۲) الی (۹۹۹۹۹-۲) و (۱۱۱-۳) الی (۹۹۹۹۹-۳) ترتیب و تنظیم می شود.

(۲) د ګاډی، ریکشا، موټر سایکل او ټراکتور نمبر پلیټ د (۱۱) له عدد نه پیل کیږی او صفر نه لری. همدارنګه د ټولو نمبر پلیټونو ښی خواته د ولایت کلمه او کینې خواته یی د نمبر پلیټ مخصوصه علامه د تقلب نه د مخنیوی لپاره ځای کړل شوی ده.

(۲) نمبر پلیت گادی، ریکشا، موتر سایکل وتراکتور از عدد (۱۱) شروع شده وبدون صفر می باشد. همچنان بطرف راست عموم نمبر پلیت ها کلمه ولایت وبطرف چپ آن علامه مخصوص نمبر پلیت به منظور جلوگیری از تقلب گنجانیده میشود.

(۳) د اعدادو او د تورو د لویوالی اندازه په هغه تناسب ده چی لږ تر لږه د څلویښت مترو له فاصلی نه ولیدل شی.

(۳) اندازه بزرگی اعداد وحروف نمبر پلیت به تناسبی می باشد که اقلاً از فاصله (۴۰) متری دیده شده بتواند.

WWW.AEL.AF

در ویشتمه ماده:

(۱) هغه نقلیه واسطه چه له هېواد نه بهر بیول کیږی، د ملی نمبر پلیټ پر ځای د دی مقرری د شپاړسمی ګڼی ضمیمی سره سم مخصوص نمبر پلیټ ورکول کیږی.

(۲) د دی مادی په لومړی فقره کښی ذکر شوی نقلیه واسطه د دی مقرری د اوه لسمی ګڼی ضمیمی سره سمه د ملیت په علامه ښکلی کیږی.

ثلیر ویشتمه ماده:

ترانزیت نمبر پلیټ له مخصوص کاغذ نه د دی مقرری د شلمی ګڼی ضمیمی سره سم جوړیږی او د واسطی د مخکنی شیشی په برخه کښی له دننه نصبیږی.

پنځه ویشتمه ماده:

ترانزیت نمبر پلیټ بی له صفر نه او د (۱۱) له ګڼی نه پیل کیږی او د احصائیی د بدلولو په منظور په هېواد کښی دننه د استعمال په صورت کښی د مربوط ولایت د ترافیکو د اداری له خوا او یا سرحد ته د ترافیکو د نژدی اداری له خوا توزیع کیږی.

شپږ ویشتمه ماده:

(۱) د شخصی نقلیه واسطی د نمبر

مادۀ بیست وسوم:

(۱) واسطه نقلیه که بخارج از کشوربرده میشود عوض نمبر پلیت ملی مطابق ضمیمه نمبر (۱۶) این مقرره نمبر پلیت مخصوص توزیع میشود.


WWW.AEL.AF

تېرېدلو اجازه ورکړی.

اجـــازه عبور بدهد.

(۳) د نقلیه واسطی چلوونکی د تم شوی نقلیه واسطی له څنګ نه د تېرېدلو، د واټ د یوی برخی د بندیدلو او نورو موانعو په صورت کښی، د مقابل لوری ترافیکو ته د لومړیتوب حق ورکوی. که چېری د ترافیک وضع په بشپړ ډول سره څرګنده نه وی د واټ ډیری ښی غاړی کښی ودریږی او په احتیاط دی حرکت وشی.

(۳) راننده واسطه نقلیه در صورت عبور از جناح واسطه نقلیه متوقف، انسداد قسمتی از جاده وسایر موانع باید ترافیك مقابل را حق قدامت بدهد، در صورتیکه وضع ترافیك وضاحت کامل نداشته باشد بکنار راست ترین جاده توقف کرده وبا احتیاط حرکت شود.

(۴) د واټ ښی خواته د نقلیه واسطی د عیارولو په وخت کښی او یا د موانعو له څنګ نه د حرکت او تېرېدلو او د نقلیه واسطی د بیا عیارولو په وخت کښی د وړاندی کېدلو د عملیی په شان دی اشاره ورکړی او شاته ترافیکو ته دی هم توجه وشی.

(۴) هنگام عیار ساختن واسطه نقلیه بطرف راست جاده و یا هنگام حرکت وعبور از جناح موانع و دوباره عیار ساختن واسطه نقلیه مانند عملیه سبقت اشاره داده و به ترافیك عقبی نیز توجه شود.

یوولسمه ماده:
ترافیکی خاصه وضع:

مادۀ یازدهم:
وضع خاص ترافیکی:

(۱) که چېری د ترافیکو جریان په څلور لارو او د واټ په خوله کښی تم او یا بند شی د نقلیه واسطی چلوونکی د شنه څراغ د لګیدلو او یا د لومړیتوب د حق د درلودلو سره سره څلور لاری ته ننوتلی نشی.

(۱) در صورتیکه جریان ترافیك در چهار راهی ویا دهانه جاده دمه ویا بندش نماید راننده واسطه نقلیه با وجود روشن بودن چراغ سبز ویا داشتن حق اولیت داخل چهار راهی شده نمی تواند.

(۲) هغه چلوونکی چی د ترافیکی

(۲) راننده ایکه نظر به قواعد

WWW.AEL.AF

قواعـدو او يـا د لومړيتـوب د حـق د درلودلو په سبب په واټ کښی د حرکت او تېرېدلو اجازه ولـری خـو ترافيکـی وضع د تم کېدلو او يا انتظار ايستلو غوښتنه وکړی له حرکت نه صرف نظر کـوی او د ترافيکـو نـور شـاملين د اشاری په واسطه په جريان پوهوی.

ترافيکی و يـا داشـتن حـق اوليـت اجـازه حرکـت و عبـور را در جـاده داشـته باشـد مگـر وضـع ترافيکـی ايجاب توقف و يا انتظار کشيدن را نمايد از حـرکت صـرف نظر نمـوده وتوسـط اشـاره جريـان را بـه ديگـر شـاملين ترافيـك می فهماند.

دولسمه ماده:
تم کېدل او پارکينگ:
الف - تم کېدل:
د لنډی مـودی لپـاره د اشخاصـو د سورولو يـا پلـی کولـو او همدارنگـه د بارولو او يـا تشـولو پـه منظور د نقليـه واسطی تم کول د لنډی مودی لپاره د حرکت پـه اسـتقامت د واټ ښی خواتـه صورت مومی.

مادۀ دوازدهم:
توقف و پارکينگ:
الف - توقف:
تـوقف واسـطه نقليـه بـرای مـدت مختصـر غـرض گـرفتن يـا پيـاده سـاختن اشـخاص وهمچنـان بـار نمـودن يـا تخليـه آن بکنـار راسـت جاده به استقامـت حرکت صـورت می گيـرد.

په يو طرفه واټ کښی په دی شرط چی د ترافيکـو د جريـان خنډ نشـی د واټ ښی او کينی خواته تم کېدل مجاز دی.

در جاده يکطرفه بطرف راست و چپ جـاده توقـف مجـاز اسـت بشـرطی کـه مانع جريان ترافيك نگردد.

په لاندی ځـايونـو کښی تم کېدل مـنع دی:

توقف نمودن در محلات ذيل ممنوع است:

۱ - په هغه ځای کښی چی د تم کېدلو د ممنوعيت لوحه نصب شوی وی.

۱ - در جـائيکه لـوحه منع توقف نصب باشد.

۲ - د واټ پـه کمسـوری ځـای او هغـه ساحه کښی چی د لېدلو وړ نه وی.

۲ - در محـل کـم عـرض وسـاحۀ غيـر قابل ديد جاده.

WWW.AEL.AF

۳ - په کړ لیچی او تونل کښی.

۳ - در گولائی وتونل.

۴ - د پلی تګ په دهلیز له هغه نه د مخه پنځو مترو په فاصله.

۴ - بالای دهلیز پیاده رو به فاصله پنج متر قبل از آن.

۵ - په څلور لارو او د واټ په خوله کښی له هغو نه د مخه د پنځو مترو او له هغه نه وروسته د پنځو مترو په فاصله.

۵ - در چهار راهی و دهانه جاده به فاصله پنج متر قبل و پنج متر بعد از آن.

۶ - د ترافیکی څراغونو او ترافیکی اشارو په مخ کښی چی د ترافیکو د نورو شاملینو د لیدلو خنډ وګرځېدلی شی.

۶ - پیشروی چراغهای ترافیکی وعلایم ترافیکی که مانع دید دیگر شاملین ترافیك شده بتواند.

۷ - په هغه ځای کښی چی د واټ په مخ غیر متقاطع خطونه یا د سیر د خط ښودونکی علامی ترسیم شوی وی.

۷ - در جائیکه خطوط غیر متقاطع یا علایم نشان دهنده خط السیر که بروی جاده ترسیم شده باشد.

ب - پارکینګ:
هغه حالت دی چی چلوونکی خپله نقلیه واسطه له دری دقیقونه زیاته او له هغه وخت نه زیاته چی د اشخاصو د سورولو یا پلی کولو او یا د نقلیه واسطی د بارولو یا تشولو لپاره ضرور وی، تم کړی او هغه پریږدی.

ب - پارکینگ:
حالتیست که راننده واسطه نقلیه خود را بیشتر از سه دقیقه ویا بیشتر از وقتیکه غرض گرفتن ویا پیاده ساختن اشخاص وبار نمودن یا تخلیه واسطه نقلیه ضرورت است توقف وآنرا ترك بدهد.

ج - چلوونکی مکلف دی چی له نقلیه واسطی نه د راښکته کېدلو په صورت کښی په داسی ډول دروازه پرانیزی چی

ج - راننده مکلف است حین پیاده شدن از واسطه نقلیه طوری دروازه را باز نماید که سبب

WWW.AEL.AF

د ترافیکو نورو شاملینو ته د خطر د پیدا کېدلو سبب نشی.

بروز خط بدیگر شاملین ترافیك نگردد.

د- پارکینګ د واټ ښی خواته او د حرکت په استقامت صورت مومی.

د - پارکینگ بکنار راست جاده وبه استقامت حرکت صورت می گیرد.

پارکینګ ته په مایل او عمودی شکل او مختلفو زاویو هغه وخت اجازه ورکول کیږی چی د ترافیکو د جریان د اخلال او بندیدلو سبب نشی.

پارکینگ بشکل مایل، عمودی وبه زوایای مختلفه وقتی اجازه داده میشود که باعث اخلال وبندش جریان ترافیك نگردد.

هـ- چلوونکی د نقلیه واسطی د پارک کولو په وخت کښی د نقلیه واسطی د پخپل سر حرکت او یا د نورو اشخاصو له خوا د ناوړه استفادی د مخ نیوی لپاره مکلف دی چی لاسی برک په فعال حالت پریږدی او د هغی دروازی کولپ کړی.

هـ - راننده موقع پارك نمودن واسطه نقلیه برای جلوگیری از حرکت خود سر واسطه نقلیه و یا استفاده سوء توسط اشخاص دیگر مکلف است بریك دستی را بحال فعال قرار داده دروازه های آنرا قفل نماید.

و- له ښار او مسکونی ځای نه د باندی (لویه لار او اطرافی سرکونه) دی نقلیه واسطه باید حتی الامکان د موټر د تګ له واټ نه بهر تم او پارک کړی.

و- در خارج از شهر ومحل مسکون (شاهراه وسرکهای اطرافی) وسایط نقلیه حتی الامکان باید خارج جاده موتر روتوقف وپارك نماید.

ز- په لاندی ځایونو کښی پارک کول منع دی:

ز - پارك نمودن در جاهای ذیل ممنوع است:

۱- په هغه ځای کښی چی د تم کېدلو یا د پارکینګ د ممنوعیت لوحه نصب وی.

۱ - در جائیکه لوحه منع توقف یا منع پارکینگ نصب باشد.

WWW.AEL.AF

۲- د واټ له خولی او څلور لاری نه د پنځو مترو په فاصله د مخه او وروسته.

۲ - بفاصله پنج متر قبل وبعد از دهانه جاده وچهار راهی.

۳- د ودانیو او ګاراجونو د ننوتلو او وتلو له لاری د پنځو مترو په فاصله د مخه او وروسته.

۳ - بفاصلهٔ پنج متر قبل و بعد از راه دخول و خروج عمارات و گاراج ها.

۴- د بس د تم ځای نه د پنځلس مترو په فاصله د مخه او وروسته.

۴ - بفاصلهٔ پانزده متر قبل وبعد از ایستگاه بس.

۵- د ټکسی په تم ځای کښی.

۵ - در ایستگاه تکسی.

۶- په کرښو لیچو، د واټ په هغه ځای کښی چی د لیدلو وړنه وی او تونل کښی.

۶ - در گولائی، مواضع غیر قابل دید جاده و تونل.

۷- د پلی تګ په دهلیز او له هغه نه د پنځو مترو په فاصله د مخه.

۷ - بالای دهلیز پیاده رو وبه فاصله پنج متر قبل از آن.

دیارلسمه ماده:

په عامه واټ باندی په نقلیه واسطه کښی د تخنیکی عوارضو د منځ ته راتلو په صورت کښی د چلوونکی مکلفیت:

مادهٔ سیزدهم:

مکلفیت راننده در صورت بمیان آمدن عوارض تخنیکی واسطه نقلیه بالای جاده عامه:

(۱) که چیری نقلیه واسطه د عام واټ په مخ باندی د حرکت په وخت کښی له تخنیکی عوارضو سره مخامخ شی، د احتمالی خطر او د ترافیکو د اخلال د لیری کولو لپاره دی، نقلیه واسطه د

(۱) هرگاه واسطه نقلیه حین حرکت بروی جاده عامه به عوارض تخنیکی مواجه شود برای رفع خطر احتمالی واخلال ترافیك، واسطه نقلیه را از جاده

WWW.AEL.AF

عام واټ نه په څنګ کړی.

(۲) که چېرې نقلیه واسطه د تخنیکی عوارضو او د امکان د نشتوالی په سبب د واټ له مخه په څنګ نکړای شی، عراده حتی الامکان د واټ غاړې ته ور غړول شی او لازم امنیتی تدبیرونه دی ونیول شی.

(۳) د دی لپاره چې نقلیه واسطه د ترافیکو د نورو شاملینو لپاره د لیدلو او تشخیص وړوی، د ورځې له خوا دی د ترافیکی علامو (اخطاریه) او د اشاری د زیړو څراغونو (لګېدونکی او ګل کېدونکی) په واسطه او د شپې له خوا دی د نقلیه واسطی د تم کېدلو د څراغونو، زیړ او ګل کیدونکو او لګیدونکو څراغونو، په سره رنګ اریکین څراغ، په یو لوبنی کښی په روغنیاتو باندی د ککړ یو ټوکر په لګولو (په تېره بیا په لویو لارو او اطرافی سرکونو کښی) او د نورو امکاناتو په واسطه د توقف ځای د لیدلو او پیژندلو وړ وګرځول شی.

څوار لسمه ماده:
د خبرتیا له وسیلی (هارن) نه استفاده:
(۱) په ښار کښی، په بیروبار ځای کښی او په مسکون ځای کی د هارن عامه کنار نماید.

(۲) در صورتیکه واسطه نقلیه نسبت عوارض تخنیکی وعدم امکانات از روی جاده دور ساخته شده نتواند حتی الامکان عراده بکنار جاده لغزانیده شده وتدابیر امنیتی لازم اتخاذ گردد.

(۳) برای اینکه واسطه نقلیه از طرف دیگر شاملین ترافیك قابل دید و تشخیص باشد در روز توسط علایم ترافیکی (اخطاریه) وچراغ های زرد اشاره (گل وبل شدنی) ودر شب توسط چراغهای توقف واسطه نقلیه، چراغهای زرد وگل وبل شدنی، چراغ اریکین برنگ سرخ، روشن نمودن یك پارچه آلوده با روغنیات در بین یك ظرف (مخصوصاً در شاهراه ها وسرك های اطرافی) وسایر امکانات محل توقف قابل ملاحظه وشناخت ساخته شود.

مادۀ چهار دهم:
استفاده از وسیله باخبری (هارن) :
(۱) در داخل شهر، محل مزدحم و محل مسکون استعمال هارن

WWW.AEL.AF

استعمال منع دی.

(۲) د خبرتیا له وسیلی یعنی هارن نه استفاده هغه وخت مجاز ده چی کوم خطر احساس شی او د هغه لیری کول په بله وسیله امکان و نه لری.

د غیر عادی هارنونو استعمال او د بیمورده یا بیا بیا هارنونو کول منع دی.

(۳) له بنار نه بهر په اطرافی واټونو باندی د وړاندی کېدلو په منظور هارن استعمالېدلای شی.

(۴) د روغتونونو، بنووننځیو، وړکتونونو سره نژدی او د شپی له خوا د مسکونو کورونو شاته او همدارنګه د کورونو او ګاراج د دروازی د پرانستلو او یا ځان ته د چا توجه د راګرځولو په منظور هارن کول منع دی.

ممنوع می باشد.

(۲) استفاده از وسیله باخبری یعنی هارن وقتی مجاز است که خطری احساس شود وبرطرف ساختن آن بوسیلۀ دیگر امکان پذیر نباشد.

استعمال هارن های غیر عادی و نواختن هارن های بیمورد یا مکرر ممنوع می باشد.

(۳) هارن در خارج شهر بالای جاده های اطرافی بمنظور سبقت استعمال شده می تواند.

(۴) هارن نمودن در نزدیك شفاخانه ها، مکاتب، کودکستان ها ودر موقع شب عقب خانه های مسکون وهمچنان بمنظور باز نمودن دروازه های منازل وګاراج ها ویا بدان ذریعه توجه شخصی را بخود جلب کردن ممنوع می باشد.

پنځلسمه ماده:
د نقلیه واسطو له څراغونو نه استفاده:
(۱) د ماشین لرونکی نقلیه واسطی چلوونکی دی د تیاری د راتلو په وخت کښی، د شپی له خوا او په هغو وختونو کښی چی د لیدلو شرایط لکه دمه او غبار، د سختی واوری او باران

مادۀ پانزدهم:
استفاده از چراغهای وسایط نقلیه :
(۱) راننده واسطه نقلیه موتر دار حین بروز تاریکی، هنگام شب ودر اوقاتیکه شرایط دید ایجاب استفاده از چراغ را نماید چون دمه وغبار، برفباری و بارندگی

WWW.AEL.AF

اوريدل، تياره معبرونه، تونلونه او داسی نور چه له څراغ نه د استفادی غوښتنه وکړی د خپلی نقليه واسطی څراغونه دی ولګوی.

شديد، معبرهای تاريك و تونل ها و امثال آن چراغ های واسطه نقليه خود را روشن سازد.

(۲) د نقليه واسطی څراغونه دی تل فعال وی د ناپاکيو او نورو شيانو په واسطه دی پوښلی نه وی.

(۲) چراغهای واسطه نقليه هميش فعال بوده وتوسط كثافات ويا اشياى ديگر پوشانيده نباشد.

(۳) د سير او حرکت څراغونو نه (د نقليه واسطی د مخی څراغونه) د سپر او حرکت په ترخ کښی د موټر د تګ د واټ د روښانه کولو لپاره استفاده کيږی.

(۳) چراغهای سير وحركت (چراغهای پيشروی واسطه نقليه) برای روشن ساختن جاده موتر روموقع ضرورت در اثنای سير وحركت مورد استفاده قرار گيرد.

د مقابل لوری نه د يوی نقليه واسطی په نږدی کېدلو او يا په مخکښی د يوی نقليه واسطی په حرکت سره د نقليه واسطی څراغ دی سمدلاسه ډيم (تت) شی. که چېری هم د مقابل لوری نه په واټ باندی د پليو شاملين په حرکت کښی وی دغه قاعده د اعتبار وړ ده.

با نزديك شدن يك واسطه نقليه از طرف مقابل و يا حركت كردن يك واسطه نقليه در جلو فوراً چراغ واسطه نقليه ديم (خيره) گردد. اين قاعده در صورتيكه از طرف مقابل بالاى جاده شاملين پياده در حركت باشد نيز مدار اعتبار مى باشد.

(۴) که چېری د موټر د تګ واټ د واټ څراغونو په واسطه تل روښانه او د ليدلو وړوی چلوونکی مکلف دی چی له ډيم (تت) څراغ نه په استفاده حرکت وکړی.

(۴) در صورتيكه جادۀ موتر رو توسط چراغهای جاده بصورت متداوم روشن و قابل ديد باشد راننده مكلف است با استفاده از چراغ ديم (خيره) حركت نمايد.

WWW.AEL.AF

(۵) د دمی او غبار، واوری اوریدلو، سخت اورښت په حالت کښی او په هغو وختونو کښی چی د لیدلو شرایط یی غوښتنه وکړی له ډیم (تت) څراغ سره حرکت صورت مومی. که چېری په دغه حالت کښی ډیم (تت) څراغ د واټ د روښانه کولو لپاره بسنه ونکړی، د دمی او غبار څراغونو نه هم استفاده کیږی.

(۵) در حال دمه وغبار، برفباری، بارندگی شدید ودر مواقعیکه شرایط دید ایجاب نماید با چراغ دیم (خیره) حرکت صورت گیرد. هرگاه در چنین حال چراغ دیم (خیره) غرض تنویر جاده مکفی نباشد چراغ های دمه و غبار نیز مورد استفاده قرار گیرد.

(۶) د هغی نقلیه واسطی چلوونکی چی د شپی له خوا په واټ باندی تم شوی مکلف دی چی د خپلی نقلیه واسطی د تم کېدلو څراغونه ولګوی او هغه د لیدلو وړ وګرځوی.

(۶) واسطه نقلیه ایکه هنگام شب بالای جاده توقف داده شده رانندۀ آن مکلف است چراغهای توقف واسطه نقلیه خود را روشن ساخته و آنرا قابل دید نماید.

(۷) په اطرافی واټ باندی تم شوی نقلیه واسطه دی د تم کېدلو په څراغونو (حدودی څراغونه) د لیدلو وړ وګرزوی. په ښاری واټ باندی تم شوی واسطه که چېری د واټ د څراغونو په واسطه په څرګند ډول روښانه شوی او له پوره فاصلی نه د لیدلو وړ وی، د نقلیه واسطی د څراغونو د لګولو اړتیا نشته.

(۷) واسطه نقلیه متوقف بالای جاده اطرافی با چراغهای توقف (چراغهای حدودی) قابل دید ساخته شود. در بالای جاده شهری در صورتیکه واسطه نقلیه متوقف توسط چراغهای جاده بصورت واضح روشن شده واز فاصله کافی قابل دید باشد ضرورت بروشن کردن چراغ واسطه نقلیه نمی باشد.

(۸) رڼا اچوونکی څراغ (د پلټلو څراغ) نه د اړتیا په وخت کښی استفاده کیږی، د واټ د روښانه کولو لپاره

(۸) چراغ روشنی انداز (جستجو کننده) در حال ضرورت مورد استفاده قرار گرفته بمنظور تنویر جاده

WWW.AEL.AF

نه پکاریږی.

(۹) په واټ باندی د نقلیه واسطی د حرکت د پېل کولو او همدارنګه د تم کولو په وخت کښی باید د لوری د بدلون د اشاری څراغ نه استفاده وشی.

(۱۰) د حرکت د لوری د بدلون د اشاری څراغ د نقلیه واسطی له راګرځیدلو، د خط السیر د بدلولو او یا راګرځولو نه د مخه دی استعمال شی او د نومورې عملیی له پای نه وروسته دی ګل کړای شی.

(۱۱) هغه نقلیه واسطی چی د قطار په ډول د ورځی له خوا په عامه واټونو باندی حرکت کوی، باید د قطار د نقلیه واسطو ډیم څراغونه او د شاسور څراغ ولګول شی.

(۱۲) د ډول ډول او غیر ضروری څراغونو او د هغو څراغونو استعمال چی د ترافیکو د شاملینو د سوء تفاهم او لیدلو د ګډوډی سبب کیږی منع دی.

شپاړسمه ماده:
عامه نقلیه واسطی:

(۱) عامه نقلیه واسطی (بس، برقی بس، ټکسی) باید په ټاکلی تم ځای او

استعمال نمی شود.

(۹) حین آغاز حرکت وهمچنان حین توقف واسطه نقلیه بالای جاده باید چراغ اشاره تغییر جهت مورد استفاده قرار گیرد.

(۱۰) چراغهای اشاره تغییر سمت حرکت قبل از دور خوردن، تغییر خط السیر ویا دور دادن واسطه نقلیه مورد استعمال قرار گرفته وبعد از ختم عملیه متذکره خاموش ساخته شود.

(۱۱) وسایط نقلیه ایکه بصورت قطار در اثنای روز بالای جاده های عامه حرکت نماید باید چراغهای دیم وچراغ سرخ عقبی وسایط نقلیه داخل قطار روشن ساخته شود.

(۱۲) استعمال چراغهای رنگارنگ و غیر ضروری و چراغهائیکه باعث سوء تفاهم واخلال دید شاملین ترافیك میگردد ممنوع میباشد.

مادۀ شانزدهم:
وسایط نقلیه عامه:

(۱) وسایط نقلیه عامه (بس، بس برقی، تکسی) باید در ایستگاه ومحل

WWW.AEL.AF

پارکینګ ځای کښی تم شی. د واټ په نورو ځایونو کښی یی تم کېدل منع دی.

پارکینگ معینه توقف وپارك نماید. در سایر نقاط جاده توقف آن ممنوع میباشد.

(۲) نوری نقلیه واسطی دی د تم ځای له څنګ نه د تېرېدلو په وخت کښی په بشپړ احتیاط حرکت وکړی او هغه اشخاص دی چی له عامه نقلیه واسطو څخه استفاده کوی له خطر سره نه مخامخ کوی.

(۲) سایر وسایط نقلیه حین عبور از جوار ایستگاه با احتیاط کامل حرکت نموده واشخاصی را که از وسایط نقلیه عامه استفاده مینمایند بخطر مواجه نه سازند.

(۳) په عامه نقلیه واسطه کښی له ټاکلی اندازی (د مجازو چوکیو شمیر) نه د زیاتو اشخاصو حمل کول منع دی ښاری بسونه له دی امر نه مستثنی دی.

(۳) حمل اشخاص در واسطه نقلیه عامه بیش از اندازۀ معینه (تعداد چوکی مجاز) ممنوع میباشد. بس های شهری ازین امر مستثنی است.

(۴) هغه څوک دی چی له عامه نقلیه واسطی نه استفاده کوی، په ټاکلی تم ځای او یا پارکینګ یا ترافیکی جزیرو کښی چی په دی منظور جوړی شوی دی انتظار وباسی. د تم ځای او د پارکینګ د نشتوالی په صورت کښی دی د موټر د تګ له واټ نه د باندی او یا دی د واټ ډېری ښی غاړی کښی انتظار وباسی او د نقلیه واسطی د رارسیدلو تر وخته دی د موټر د تګ واټ ته نه ننوزی.

(۴) شخصیکه از واسطه نقلیه عامه استفاده مینماید در ایستگاه و پارکینگ معینه یا جزایر ترافیکی که به این منظور ساخته شده انتظار بکشد در عدم موجودیت ایستگاه و محل پارکینگ خارج جاده موتر رو ویا بکنار راست ترین آن انتظار داشته و تا موقع رسیدن واسطه نقلیه داخل جاده موتر رو نگردد.

WWW.AEL.AF

(۵) د نقلیه واسطی سورلی دی د نقلیه واسطی د حرکت په ترڅ کښی د نقلیه واسطی له کړکی نه لاس سر او یا نور شیان نه باسی او د خطر د رامنځ ته کېدلو او د ترافیکو د شاملینو د آزار سبب دی نه کیږی. د نقلیه واسطی په پایه دان، ټول بکس، د شا په زینی، جنګلی او بام باندی دریدل منع دی.

(۵) راکب واسطه نقلیه عامه در اثنای حرکت واسطه نقلیه دست، سر ویا اشیای دیگر را از کلکین های واسطه نقلیه خارج نساخته و باعث ایجاد خطر واذیت شاملین ترافیك نگردد. ایستاده شدن بالای پایه دادن، تول بکس، زینه عقبی جنگله وبام واسطه نقلیه ممنوع میباشد.

(۶) د هغو شیانو انتقال چی د عامه نقلیه واسطی د سورلیو د آزار او هغو ته د زیان د رامنځ ته کېدلو سبب شی منع دی.

(۶) انتقال اشیای که باعث اذیت وایجاد ضرر برای راکبین وسایط نقلیه عامه گردد ممنوع میباشد.

(۷) د عامه نقلیه واسطی سورلی دی د بسونو د دروازو د ټرل کېدلو په وخت کښی مزاحمت نه کوی او ټاکلی ټم ځای ته له رسیدلو نه د مخه دی دروازی نه پرانیزی. له عامه نقلیه واسطی نه استفاده په ټاکلو ټم ځایونو کښی د نوبت په پام کښی نیولو سره صورت مومی.

(۷) راکبین وسایط نقلیه عامه موقع بسته شدن دروازه های بسها مزاحمت نکرده وقبل از رسیدن به ایستگاه معینه دروازه ها را باز ننماید. استفاده از واسطه نقلیه عامه با رعایت نوبت در ایستگاه های معینه صورت میگیرد.

(۸) سورلی دی د نقلیه واسطی د حرکت په وخت کښی له چلوونکی سره له خبرو کولو نه په جدی ډول ډډه وکړی.

(۸) راکبین در موقع حرکت واسطه نقلیه از صحبت با راننده جداً خود داری نمایند.

WWW.AEL.AF

اوه لسمه ماده:

د اشخاصو حمل او نقل:

(۱) په نقليه واسطه کښې د هغو چوکيو له شمير سره برابر چې پکښې نصب شوی او د نقليه واسطی د سير په جواز کښې ليکل شوی د اشخاصو حمل صورت مومی.

(۲) په لاندی نقليه واسطو کښې د اشخاصو حمل او نقل منع دی:

الف – په موټر سايکل چې وروستی چوکی ونه لری.

ب – په ټريلر کښې (ضميمه عراده).

ج – په هغی بار وړونکی نقليه واسطه کښې چې باډی يی په اتومات ډول ښکته او پورته کيږی.

د – په هغه ټراکټور کښې چې د کښيناستلو په چوکی سنبال نه وی.

هـ – په بايسکل، خو تر اوه کلنی پوری د کوچنيانو حمل په بايسکل هغه وخت مجاز دی چې د کوچنيانو د حمل مخصوصه چوکی پکښې نصب شوی وی.

و – په بار وړونکی نقليه واسطه (لاری) مگر

مادۀ هفدهم:

حمل ونقل اشخاص:

(۱) حمل اشخاص در واسطه نقليه بتعداد چوکی که در آن نصب ودر جواز سير واسطه نقليه درج ميباشد صورت ميگيرد.

(۲) حمل ونقل اشخاص در وسايط نقليه آتی ممنوع است:

الف – در موتر سايکل بدون داشتن چوکی عقبی.

ب – د رتريلر (عراده ضميمه).

ج – در واسطه نقليه بار بريکه بادی آن بصورت اتومات بالاوپائين ميشود.

د – در تراکتوريکه مجهز باچوکی نشستن نباشد.

هـ – در بايسکل، مگر حمل اطفال الی سن هفت سالگی توسط بايسکل وقتی مجاز است که چوکی مخصوص حمل اطفال در آن نصب باشد.

و – در واسطه نقليه باربر (لاری) مگر

WWW.AEL.AF

کښی، خو اشخاص د بار د مشایعت او یا د هغی د بارولو او یا تشولو لپاره هغه وخت حمل کېدلای شی چی په هغی کښی د کښیناستلو او تینګ نیولو لپاره د ډاډ وړ ځای موجود وی. په دی حالت کښی د نقلیه واسطی سرعت په ګړی کښی له (۶۰) کیلو مترو نه زیاتیدلای نشی.

اشخاص غرض مشایعت بار ویا بار کردن و تخلیه آن وقتی حمل شده میتواند که محل اطمینانی برای نشستن ومحکم گرفتن در آن موجود باشد. سرعت واسطه نقلیه درین حالت از (۶۰) کیلومتر فی ساعت بیشتر بوده نمی تواند.

ز - په مخکینی چوکی کښی له ګنجایش نه د زیاتو اشخاصو حمل کول او د چلوونکی کینې لاس ته د سورلی کښیناستل.

ز - حمل اشخاص اضافه از ګنجایش در چوکی جلوی ونشستن راکب بدست چپ راننده.

اتلسمه ماده:

د نقلیه واسطی د بار او محمولاتو انتقال:

(۱) په بار وړونکی نقلیه واسطه کښی په جواز سپر کښی له مندرج مجاز وزن نه زیات بار وړل منع دی.

مادۀ هجدهم:

انتقال بار و محمولات واسطه نقلیه:

(۱) حمل بار در واسطه نقلیه بار بر بیش از وزن مجموعی مجاز مندرج جواز سیر ممنوع میباشد.

(۲) چلوونکی نشی کولای هغه محمولات حمل کړی چی د نقلیه واسطی د باډی، سیټ او یا ګلګیر له ساحی نه ووزی او د بارسور د نقلیه واسطی له سورنه زیاتېدلای نشی.

(۲) راننده نمیتواند محمولاتی را حمل نماید که از ساحۀ بادی، سیت ویا ګلګیر واسطه نقلیه خارج گردد وعرض باراز عرض واسطه نقلیه متجاوز بوده نمیتواند.

هغه محمولات چی د مخصوصی وضعی او ساختمان په اساس د

محمولاتیکه بنابر وضع و یا ساختمان مخصوص قابل

WWW.AEL.AF

ویشلو او تجزیی وړ نه وی له دی امره مستثنی دی.

انقسام و تجزیه نباشد ازین امر مستثنی است.

(۳) بار دی د نقلیه واسطی دننه په صحیح او محکم ډول بار بندی شی، په دی ډول چی د نقلیه واسطی د چوکاټ له دوه خواوو او د هغی د مخی خوانه ونه وزی او د واټ په مخ لوړدل یی د ترافیکو نورو شاملینو ته د خطر او زیان د منځ ته راتلو سبب نشی.

(۳) بار بداخل واسطه نقلیه بصورت درست ومستحکم باربندی شده طوریکه از ساحه دو طرف چوکات واسطه نقلیه وپیشروی آن خارج نگردد وبا سقوط آن بالای جاده باعث ایجاد خطر وخساره به سایر شاملین ترافیك نگردد.

(۴) د نقلیه واسطی بار باید د چلوونکی د مخی د لیدلو ساحه او د نقلیه واسطی اشترنګ بند نکړی یا دی وروستی څراغونه، د اشاری څراغ، د برک څراغ، د نمبر پلیټ څراغ ورباندې پوښلی نه وی.

(۴) بار واسطه نقلیه نباید ساحات دید پیشروی راننده واشترنگ واسطه نقلیه را بند ساخته یا چراغهای عقبی، چراغ اشاره ، چراغ برك، چراغ نمبر پلیت بدان واسطه پوشیده شود.

(۵) که چېری بار د نقلیه واسطی له چوکاټ نه له یو متر نه زیات تجاوز وکړی، د مخه او وروسته (۴۰۰×۴۰۰) ملی مترو په اندازه سری او سپینی لیکی لرونکی ټوکر دی وځړول شی. د شپی له خوا دی د مخی او شاخواته سپین څراغ نصب او ولګول شی.

(۵) در صورتیکه بار از چوکات بادی واسطه نقلیه اضافه از یك متر تجاوز نماید در پیشروی وعقب تکه را دار سرخ وسفید به اندازه (۴۰۰×۴۰۰) ملی متر اویزان گردد. در اثنای تاریکی وشب پیشروی چراغ سفید ودر عقب چراغ سرخ نصب وروشن میشود.

(۶) که چېری د نقلیه واسطی د بار اندازه (۲،۵) مترو سور (۴) مترو ارتفاع، (۲۴) مترو اوږدوالی، له (۳۸)

(۶) در صورتیکه اندازه بار واسطه نقلیه از عرض (۲،۵) متر ارتفاع (۴) متر طول از (۲۴) متر وزن مجموعی

WWW.AEL.AF

ټنو مجموعی مجاز وزن نه، د واحد اکسل وزن له (۸) ټنو او ډبل اکسل وزن له (۱۶) ټنو نه زیاتوالی وکړی، د هغه د حمل او نقل لپاره د ترافیکو لیکلی اجازه لاړمه ده.

مجاز از (۳۸) تن وزن اکسل واحداز (۸) تن واکسل دبل از (۱۶) تن تجاوز نماید برای حمل و نقل آن اجازه کتبی ادارۀ ترافیك لازم میباشد.

نولسمه ماده:

د نقلیه واسطی د چلوونکی او کلینر مکلفیت:

(۱) د نقلیه واسطی چلوونکی مکلف دی چی د چلولو په وخت کښی لاندی سندونه له ځان سره ولری:

الف- د چلولو جواز.

ب- د سپر جواز.

ج- د لینی فعالیت اجازه نامه (د ټکسی او بس لپاره د اشخاصو د حمل او نقل اجازه نامه).

د- د بار د انتقال اجازه نامه (د بار وړلو اجازه نامه).

(۲) چلوونکی د لاندی ټکو په پام کښی نیولو مکلف دی:

الف- په واټ باندی له حرکت نه د مخه دی د خپلی نقلیه واسطی مهم تجهیزات معاینه کړی او د هغو د فعال

مادۀ نزدهم:

مکلفیت راننده وکلینر واسطه نقلیه:

(۱) راننده واسطه نقلیه مکلف است در اثنای رانندگی اسناد ذیل را با خود داشته باشد:

الف- جواز رانندگی.

ب - جواز سیر.

ج - اجازه نامه فعالیت لینی (اجازه نامه حمل ونقل اشخاص برای تکسی وبس).

د - اجازه نامه انتقال بار (اجازه نامه باربری).

(۲) راننده مکلف به رعایت نکات آتی میباشد:

الف - قبل از حرکت بالای جاده تجهیزات مهمه واسطه نقلیه خود را معاینه و از فعال بودن آن اطمینان

WWW.AEL.AF

و نه دی ډاډ په لاس راوړی.

حاصل نماید.

ب- د سورليو، شيانو او محمولاتو په واسطه دی خپله د ليدلو (د مخی) ساحه نه بند وی.

ب - ساحۀ ديد (پيشروی) خود را بواسطۀ راکبين، اشياء ومحمولات مسدود نسازد.

ج- د نقليه واسطی او د هغی د ټريلر د بار وضع دی معاينه کړی او د ترافيکی مقرراتو سره سم هغه عيار کړی.

ج - وضع بار ومحمولات واسطه نقليه وتريلر آنرا معاينه وبر طبق مقررات ترافيکی عيار نمايد.

د- د خپلی نقليه واسطی نمبر پليټ دی پاک او د لوستلو وړ وساتی.

د - نمبر پليت واسطه نقليه خود را پاك وخوانا نگهدارد.

هـ- د امنيتی کمربند د موجوديت په صورت کښی دی د چلولو په وخت کښی له هغه نه استفاده وکړی.

هـ - در صورت موجوديت کمربند امنيتی حين رانندگی از آن استفاده به عمل آورد.

و- د تخنيکی عوارضو د پېښېدلو په صورت کښی دی خپله نقليه واسطه د واټ له مخی نه ليری کړی.

و - در صورت بروز عوارض تخنيکی واسطه نقليه خود را از روی جاده دور نمايد.

د امکان د نشتوالی په صورت کښی دی هغه د واټ غاړی ته وښويوی او د ترافيکو نورو شاملينو ته دی هغه د تشخيص وړ وګرځوی.

در صورت عدم امکان آنرا بکنار جاده لغزانيده و برای ساير شاملين ترافيك آنرا قابل تشخيص بسازد.

ز- د ترافيکی پېښی د پېښېدلو په صورت کښی دی له ټپيانو سره لومړنی مرستی وکړی او د ايجاب په صورت کښی دی هغوی روغتون ته ورسوی.

ز- در صورت وقوع حادثه ترافيکی با مجروحين کمك های اوليه را انجام داده ودر حال ايجاب آنها را به شفاخانه انتقال بدهد.

WWW.AEL.AF

ح- د ترافیکی کنټرول په حال کی دی مربوط سندونه (د سیر جواز، چلولو جواز او نوری اجازه نامی) د ترافیکو څارندوی ته وروښیی.

ح - در حال کنترول ترافیکی اسناد مربوط (جواز سیر، جواز رانندگی وسایر اجازه نامه ها) را بملاحظه څارندوی ترافیك برساند.

ط- د واوری اوربدلو یا اوربنت په وخت کښی او یا د واټ په مخ د اوبو د موجودیت په صورت کښی دی ورو حرکت وکړی او د لارویو د اذیت او کثیفولو سبب دی نه کیږی.

ط - در مواقع بارندگی وبرفباری ویا موجودیت آب بروی جاده آهسته حرکت نموده وباعث اذیت وکثیف نمودن عابرین نگردد.

ی- خپله نقلیه واسطه دی د هغو اشخاصو د استفادی لپاره نه ورکوی چی د چلولو جواز نه لری او یا د الکهولی مشروباتو او یا مخدره موادو د نشی تر اغیزی لاندی وی.

ی - واسطه نقلیه خود را غرض استفاده اشخاصیکه جواز رانندگی نداشته باشد یا تحت تاثیر نشه مشروبات الکهولی ویا مواد مخدره قرار داشته باشد نگذارد.

ک- د ترافیکی پښښو او جرمی واقعاتو، د تخنیکی عوارضو د پښښدلو په صورت کښی او د مشتبه اشخاصو د تثبیتولو او د مظنون د نیولو لپاره دی خپله نقلیه واسطه د ټپیانو، مقتولینو د انتقال په منظور د ترافیک د څارندوی په اختیار کښی ورکړی.

ك - در صورت وقوع حادثه ترافیکی و واقعات جرمی، عوارض تخنیکی ودر تثبیت اشخاص مشتبه و گرفتاری مظنون واسطه نقلیه خویشرا غرض انتقال مجروحین، مقتولین بدسترس څارندوی ترافیك قرار بدهد.

ل- د موټر سایکل د چلولو په وخت کښی دی د موټر سایکل مخصوصه خولی په سر ولری د موټر سایکل شاته سیټ کښی او یا کجاوه کښی ورسره

ل - حین رانندگی موتر سایکل کلاه مخصوص موتر سایکل بسر داشته باشد نفر همراه در سیت عقبی ویا کجاوه موتر سایکل نیز تابع

WWW.AEL.AF

ملګری شخص هم د دی امر تابع دی.

این امر میباشد.

(۳) په لاندی حالاتو کښی چلوونکی په عامه واټ باندی د نقلیه واسطی د چلولو حق نه لری:

(۳) در حالات ذیل راننده حق راندن واسطه نقلیه را بالای جاده عامه ندارد:

الف - په هغه حالت کښی چه نقلیه واسطه تخنیکی عوارض ولری، د واټ ترافیکی امنیت مختل کړی.

الف - در حالیکه واسطه نقلیه عوارض تخنیکی داشته، امنیت ترافیکی جاده را مختل نماید.

ب- د چلولو د جواز د نه درلودلو په حالت کښی.

ب - در حال نداشتن جواز رانندگی.

ج- د الکهولی مشروباتو او مخدره موادو نه د را ولاړی شوی نشی په حالت کې.

ج - در حالت سکر ناشی از مشروبات الکهولی ومواد مخدره.

د- د ناروغی، روحی تشو شاتو خستګی او بیخوبی په حالت کی.

د - در حالت مریضی، تشوشات روحی، خستګی وبیدار خوابی.

هـ- د جسمی او دماغی نیمګړتیاوو په صورت کښی.

هـ - در صورت نواقص جسمی و دماغی.

(۴) د نقلیه واسطی کلینر لاندی مکلفیتونه لری:

(۴) کلینر واسطه نقلیه مکلفیت های آتی را دارا میباشد:

الف: د نقلیه واسطی دننه دی د سورلیو ځای په ځای کول تنظیم کړی او په نقلیه واسطه کښی دی له اضافه سورلیو نه مخنیوی وکړی.

الف- جابجا شدن راکبین را در داخل واسطه نقلیه تنظیم نموده و از اضافه سواری در واسطه نقلیه جلوگیری بعمل آورد.

WWW.AEL.AF

ب- د نقليه واسطی د دروازی له تړل کېدلو نه دی ډاډ په لاس راوړی او چلوونکی ته دی ډاډ ورکړی او لارښوونه دی ورته وکړی.

ب - از بسته شدن دروازه های واسطه نقلیه اطمینان حاصل و به راننده اطمینان و رهنمایی بدارد.

ج- د نقليه واسطی په پايه دان د شاپه زينه، جنګلی او بام باندی دی د سورليو له ديدلونه مخنيوی وکړی.

ج - از ایستاده شدن راکبین بالای پایه دان،زینه عقبی، جنگله وبام واسطه نقلیه جلوگیری بعمل میآورد.

شلمه ماده:
د بايسکل، ګاډی، د لاسی او حيوانی کراچی سير او حرکت:
(۱) د بايسکل چلوونکی لاندی مکلفيتونه لری:

مادۀ بیستم:
سیر وحرکت بایسکل، گادی، کراچی دستی وحیوانی:
(۱) راننده بایسکل مکلفیت های آتی را دارا میباشد:

الف- د بايسکل لازم تجهيزات دی بشپړ او فعال وی.

الف- تجهیزات لازمه بایسکل تکمیل و فعال باشد.
بایسکل در پیشرو دارای یك چراغ سفید ودر عقب یك چراغ سرخ و یك عدد شیشۀ سرخ انعکاس دهنده، به هردو طرف پایه دانها شیشه های زرد رنگ انعکاس دهنده برك فعال ویك عدد زنگ بالای هندل داشته باشد. نصب نمودن هارن های مختلفه ونصب زنگها بدو طرف چرخ های بایسکل ممنوع میباشد.

ب - د بايسکل د ځانګړی لاری د موجوديت په صورت کښی له هماغی

ب - در صورت موجودیت راه جداگانه بایسکل، از همان راه

WWW.AEL.AF

لاری نه استفاده وکړی، کنه د موټر د تګ د واټ له ډیری ښی غاړی نه دی استفاده وکړی.

استفاده نموده ودر غیر آن از راست ترین کنار جاده موتر رو استفاده نماید.

ج- د یو بل څنګ ته (د صف په شکل) د بایسکل چلولو چی د ترافیکو د نورو شاملینو د حرکت خنډ شی، منع دی.

ج - راندن بایسکل پهلوی همدیگر (بشکل صف) که مانع حرکت سایر شاملین ترافیك گردد ممنوع است.

د- د چلولو په وخت کښی له بایسکل نه لاس او پښی لیری کول، د نقلیه واسطوشاته نژدی حرکت کول او یا د نورو نقلیه واسطو تینګ نیول، منع دی.

د - در موقع رانندگی دست ها و پاها را از بایسکل رها ساختن، عقب وسایط نقلیه نزدیك حرکت کردن ویا از وسایط نقلیه دیگر محکم گرفتن ممنوع میباشد.

هـ- په بایسکل باندی د دوهم شخص وړل منع دی له اوه کلنی نه د کوچنیو اطفالو حملول له دی امره مستثنی دی، په دی شرط چی په بایسکل باندی د ناستی مناسب ځای موجود وی.

هـ - حمل نمودن شخص دومی در بایسکل ممنوع میباشد. حمل اطفال کمتر از سن هفت سالگی ازین امر مستثنی است. مشروط بر اینکه محل نشستن مناسب در بایسکل موجود باشد.

و - د هغو اجناسو او شیانو وړل چی د نورو د آزار او یا خطر سبب کیږی منع دی.

و - حمل اجناس واشیائیکه سبب اذیت دیگران ویا باعث خطر میگردد ممنوع میباشد.

ز- د بایسکل چلوونکی دی ښی خواته د راګرځېدلو په صورت کښی په ښی لاس او کینې خواته د راګرځېدلو په

ز - راننده بایسکل با احتیاط لازم موقع دور خوردن بطرف راست با دست راست ودر صورت

WWW.AEL.AF

صورت کښی په کښې لاس باندی په احتیاط سره د خپل حرکت د لوری اشاره وکړی.

دور خوردن بطرف چپ با دست چپ خود سمت حرکت خود را اشاره بدهد.

ح- د بایسکل چلوونکی نشی کولای چی د پلو په لار کښی بایسکل وچلوی. یوائی هغه وخت چی له بایسکل نه پلی کیږی د پلو په لار حرکت کولای شی.

ح - رانندۀ بایسکل نمیتواند در پیاده رو رانندگی نماید. تنها وقتیکه از بایسکل پیاده میشود بالای پیاده رو حرکت کرده میتواند.

ط- د بایسکل چلوونکی مکلف دی چی په عامه واټ باندی د سړک او حرکت مقررات په پام کښی ونیسی.

ط - راننده بایسکل مکلف است مقررات سیر وحرکت را در جاده عامه رعایت نماید.

(۲) د ګاډی، حیوانی او لاسی کراچی د چلوونکی مکلفیتونه:

(۲) مکلفیت های رانندگان، کراچی حیوانی ودستی:

الف- ګاډی، حیوانی او لاسی کراچی دی د امکان تر حده پوری د ګڼی ګوڼی په وختونو او ځایونو کښی له فرعی لارونه استفاده وکړی. د فرعی لارو د نشتوالی په صورت کښی دی د موټر د تګ د واټ په ډډ ښی برخی کښی حرکت وکړی.

الف- گادی، کراچی حیوانی و دستی حتی الامکان در مواقع و مناطق مزدحم از راه های فرعی استفاده نماید. در صورت عدم موجودیت راه های فرعی از راست ترین حصه جاده موتر رو حرکت نماید.

ب- د ګاډی چلوونکی دی په ګاډی پوری تړلی بوده تر خپل کنټرول لاندی وساتی د هغه قیضه دی د چلولو په وخت کښی هېڅکله نه پریږدی.

ب - راننده گادی باید حیوان بسته با گادی را تحت کنترول خود قرار داده وهیچگاه قیضه آنرا در اثنای رانندگی رها ننماید.

WWW.AEL.AF

ج- په شپی او تیاره کښی دی ګاډی او کراچی خپل کینې لوری ته یو سپین یا ژیړ رنګی څراغ ولری چی د مخی او شاخوا نه په ښه والی سره د لیدلو او تشخیص وړ وی.

ج - در اثنای شب وتاریکی گادی وکراچی باید یك چراغ سفید ویا زرد رنگ بطرف چپ آن داشته باشد که از پیشروی وعقب به درستی قابل دید وتشخیص باشد.

د- ګاډی، حیوانی او لاسی کراچی دی د شپی له خوا د موټر د تګ په واټونو او پارک پریښودل نه شی.

د - گادی، کراچی حیوانی و دستی هنگام شب در بالای جاده های موتر رو پارك وا گذاشته نشود.

(۳) د اشخاصو او مالونو د انتقال مخصوص وسایل:

(۳) وسایل مخصوص انتقال اشخاص واموال:

الف - د مالونو د نقل کولو لاسی کراچی، د کوچنیانو ریکشا د تعمیراتی موادو د حمل کولو مخصوصه کراچی (رولر) د دی مقرری په مفهوم نقلیه واسطی نه دی.

الف - کراچی دستی نقل دهنده اموال، ریکشای اطفال، کراچی مخصوص حمل مواد تعمیراتی (رولر) به مفهوم این مقرره واسطه نقلیه نمیباشد.

ب- لاسی کوچنی کراچی، رولر او د ناروغانو د وړلو ریکشا دی د پلولو لاری او د موټر د تګ له واټ نه بهر فرعی لارونه استفاده وکړی.

ب - کراچی دستی کوچك، رولر وریکشای حمل مریضان از پیاده رو وراه های فرعی خارج جاده موتر رو استفاده نمایند.

یو ویشتمه ماده:
د پلو شاملینو مکلفیتونه:

مادۀ بیست ویکم:
مکلفیت های شاملین پیاده:

(۱) د پلو شاملین دی د پلو په لاری تګ راتګ وکړی، که چېرې پیاده رو موجود نه وی، د پاخه سرک په غاړه

(۱) شاملین پیاده بالای راه پیاده رو عبور و مرور نمایند، هرگاه کنار سرك اسفالت که قیر نشده

WWW.AEL.AF

کښی دی چی قیر نه وی تګ راتګ وکړی. که چېری د پاخه سرک غاړه خامه ونه لری. د واټ له ډیری ښی غاړی نه دی استفاده وشی.

باشد عبور مرور نمایند ، هرگاه کنار سرك اسفالت خامه نداشته باشد از کنار راست ترین جاده استفاده بعمل آید.

(۲) په اطرافی سرکونو کښی (له ښار او مسکونو ځایونو نه بهر) دی د پلو شاملین د نقلیه واسطی په مقابل استقامت (د موټر د تګ ډیره کینه برخه) حرکت وکړی.

(۲) شاملین پیاده در سرکهای اطرافی (خارج شهر ومحل مسکون) به استقامت مقابل وسایط نقلیه (حصه چپترین جاده موتر رو) حرکت نمایند.

(۳) د پلو شاملین دی په هغه صورت کښی چی له ځان سره شیان او اجناس وړی د موټر د تګ د واټ له ډیری ښی برخی نه استفاده وکړی څو چی د پلو د نورو شاملینو د مزاحمت سبب نشی.

(۳) شاملین پیاده در صورتیکه اشیاء واجناس را با خود حمل مینمایند از قسمت راست ترین جاده موتر رو استفاده نمایند تا باعث مزاحمت سایر شاملین پیاده نگردند.

(۴) د پلو هغه شاملین دی چی د منظم ګروپ یا قطار په شکل د یو شخص په لارښوونه حرکت کوی د نقلیه واسطو د سیر او حرکت له ګډوډولو نه پرته د موټر د تګ د واټ له ډیری ښی برخی نه استفاده وکړی.

(۴) شاملین پیاده ایکه بشکل گروپ ویا قطار منظم برهنمایی یکنفر حرکت مینمایند از کنار راست ترین جاده موتر رو بدون اخلال سیر وحرکت وسایط نقلیه استفاده نمایند.

په تیاره او شپه کښی، د دمی او غبار په حالاتو کښی دی د قطار د کینی خوا په مخکښی یو سپین څراغ او شاته دی یو سور څراغ د دوی د تشخیص لپاره حمل شی.

در موقع تاریکی وشب در حالات دمه وغبار در پیشروی طرف چپ قطار یك چراغ سفید ودر عقب یك چراغ سرخ غرض تشخیص شان حمل شود.

WWW.AEL.AF

(۵) د پلو شاملین دی په احتیاط سره د موټر د تګ واټ ته ننوزی په دوه طرفه واټ کښی دی لومړی کینی خواته او د واټ په منځنی برخه کښی دی بنی خواته وګوری، هیڅکله دی د تم شویو نقلیه واسطو له مخی نه د موټر د تګ واټ ته نه ننوزی.

(۵) شاملین پیاده با احتیاط داخل جاده موتر رو گردیده د رجاده دو طرف اولاً بطرف چپ ودر حصه وسطی جاده بطرف راست نگریسته هیچگاه از پیشروی وسایط نقلیه متوقف داخل جاده موتر رو نگردند.

(۶) د پلو شاملین دی د موټر د تګ د واټ نه د تېرېدلو په منظور د پلی تګ له دهلیزونو نه چی د ترافیکی علامو او د واټ د مخ په خطونو باندی په ننبه شوی وی استفاده وکړی.

(۶) شاملین پیاده غرض عبور از جاده موتر رو از دهلیز پیاده رو که توسط علایم ترافیکی وخطوط روی جاده علامه گذاری شده باشد استفاده نمایند.

که چېری د پلی تګ دهلیز موجود نه وی په مستقیم او لنډ ډول دی د واټ سورنه تیر شی.

در صورتیکه دهلیز پیاده رو موجود نباشد بصورت مستقیم و کوتاه عرض جاده را عبور نمایند.

(۷) په هغو څلور لارو کښی چی د ترافیک جریان د برقی سګنالونو او یا د ترافیکو د مؤظفینو په واسطه تنظیمیږی، پلی اشخاص هغه وخت د پلی تګ دهلیز ته ننوتلی شی چی د پلی د لاری څراغ شین وی او یا د ترافیک څارندوی د تېرېدلو اجازه ورکړی.

(۷) در چهار راهی که جریان ترافیك توسط سگنالهای برقی و یا مؤظفین ترافیك تنظیم میگردد اشخاص پیاده وقتی بدهلیز پیاده رو داخل شده میتوانند که چراغ پیاده رو سبز بوده ویا څارندوی ترافیك اجازه عبور بدهد.

(۸) د آلارم د هارن د اورېدلو او یا د اطفائیی، څارندوی د نقلیه واسطو، د

(۸) در موقع شنیدن هارن آلارم ویا ملاحظه اشارات مخصوصه وسایط

WWW.AEL.AF

تعاونی خدماتو او د پیښو ضد، امبولانسونو نقلیه واسطو د مخصوصو اشارو د لیدلو په وخت کښی دی د پلو شاملین د موټر د تګ واټ او د پلی تګ دهلیز سمدلاسه تش کاندی.

نقلیه اطفائیه، څارندوی، وسایط نقلیهٔ خدمات تعاونی وضد حوادث، امبولانس، شاملین پیاده جاده موتر رو ودهلیز پیاده را فوراً تخلیه نمایند.

(۹) بس، برقی بس، ټکسی ته د پلو د شاملینو انتظار ایستل د موټر د تګ په واټ باندی منع دی.

(۹) انتظار کشیدن شاملین پیاده برای بس، بس برقی، تکسی بالای جاده موتر رو ممنوع میباشد.

دوه ویشتمه ماده:

د پلی تګ دهلیز:

(۱) هغه څوک چی د پلی تګ په دهلیز باندی قرار مومی، د ټولو نقلیه واسطو په وړاندی د لومړیتوب حق لری. د نقلیه واسطو چلوونکی مکلف دی چی د پلی تګ په دهلیز باندی د پلو اشخاصو تېرېدل ممکن کړی او په ډیر کم سرعت او لازم احتیاط سره دی دهلیز ته نژدی شی او د پلو اشخاصو د موجودیت په صورت کښی دی د پلی تګ د دهلیز په مقابل کښی تم شی.

مادهٔ بیست ودوم:

دهلیز پیاده رو:

(۱) شخصیکه بالای دهلیز پیاده رو قرار میگیرد در برابر تمام وسایط نقلیه حق اولیت دارد. رانندگان وسایط نقلیه مکلف اند تا عبور اشخاص پیاده را بالای دهلیز پیاده رو ممکن ساخته وباکم ترین سرعت واحتیاط لازم بدهلیز نزدیك شده و در صورت موجودیت اشخاص پیاده مقابل دهلیز پیاده رو توقف نمایند.

(۲) د معیوب شخص د تېرېدلو په وخت کښی په تېره بیا چی په مخصوص بازو بند باندی مشخص وی او یا په لاس امسا او داسی نورو باندی اشاره وکړی چلوونکی دی هغوی ته د تېرېدلو امکان برابر کړی او د ضرورت

(۲) در حال عبور شخص معیوب خصوصاً وقتیکه با بازو بند مخصوص مشخص باشد و یا با دست عصاء وامثال آن اشاره دهد رانندگان برای آنها امکان عبور و میسر ساخته

WWW.AEL.AF

په وخت کښې دی نقلیه واسطه ودروی او د هغــو د تېرېــدلو تــر وختــه دی انتظار وباسی.

وعنــد الضــرورت واســطه نقلیــه را متــوقف و تــا زمــان عــبور آنهــا انتظار بکشند.

(۳) د ترافیکــی جریــان د دمــی او تــم کېدلو پــه وخت کښې چی د هغــه پــه واسطه د نقلیــه واسطو چلــوونکی تم کېدلو تــه مجبــوریږی، د پلــی تــګ د دهلیــز پــه وړانــدی دی تــم شــی. د پلــی تــګ د دهلیــز ســاحه دی پرانســتلی وساتی.

(۳) در اثنــای دمــه وتوقــف جریــان تــرافیکی کــه بــالاثر آن رانندگان وســایــط نقلــیه مجــبور بــه تــوقــف میــشونــد پیشــروی دهلیــز پــیاده رو تــوقــف نمــوده ســاحــۀ دهلــــیز پــــیاده رو را بــاز نگهدارند.

(۴) د پلــی تــګ دهلیــز تــه نــژدی هغــه وخت چلوونکی د یوی نقلیه واسطی لــه څنګ نــه تیریــدلی یــا وړانــدی کېــدلای شی چی د پلو شاملینو لپــاره کوم خطر موجود نه وی.

(۴) در نزدیــك دهلیــز پیــاده رو وقتــی رانــنده از پــــهلوی یــك واسطه نقلیــه عبــور یــا ســبقت نمــوده میتوانــد کــه خطــری بــرای شــاملین پیــاده وجــود نداشته باشد.

هغی نقلیی واسطی نه چی د پلی تګ د دهلیز په وړاندی یی د پلو د شاملینو د تېرېدلو پــه سبب توقــف کــړی وی بلــه نقلیه واسطه د وړاندی کېدلو اجازه نــه لری.

واســـطه نقلــیه ایکــه مقابــل دهلیــز پیـــــاده رو نـــسبت عبــور شــاملین پیــاده تـــوقــف نمـــوده بــاشــد واســطه نقلیــه دیگــر اجــازه ســبقت را ندارد.

(۵) که د پلی تګ د دهلیز ترسیم شوی خطونــه د بایســکل د تــګ یــوی لاری او یا د واټ بلی برخی ته ادامه پیدا کړی، په دی صــورت کښې هــم د دی مــادی د (۱) (۲) او (۳) فقــری قواعــد پــه پــام کښې نیول کیږی.

(۵) هرگاه خطوط ترسیم شــده دهلیــز پیاده رو بالای یك راه بایسکل رو ویا قســمت دیگر جاده ادامــه پیــدا نمایــد درینصــورت نیــز قــواعــد متــذکره فقــره (۱) (۲) (۳) ایــن مــاده قابــل رعایت است.

WWW.AEL.AF

در ویشتمه ماده:
د واټ په ترافیکو کښی د بوده ګانو شمول:

(۱) بوده ګان په هغه صورت کښی د واټ په ترافیکو کښی شاملېدلای شی چی سایق (لارښود) د هغو د اداری قدرت ولری. هغه څوک چی د بوده ګانو د حرکت او لارښوونی مسوول دی باید مربوط ترافیکی قواعد په عامه واټ باندی په پام کښی ونیسی.

(۲) د ترافیکی ګڼی ګونی او تراکم په جریان کښی په عامه واټ باندی د بوده ګانو تګ راتګ منع دی.

(۳) هغه اهلی او کورنی بوده ګان دی چی په عام واټ باندی د هغو حرکت د ترافیکو جریان اخلال او یا له خطر سره مخامخ کړی او یا د ترافیکو د درېدلو سبب شی له عامه واټ نه لیری وساتل شی.

(۴) د نقلیه واسطی شاته د بوده ګانو راکښل منع دی.

(۵) د شپی له خوا او په هغه حالت کښی چی د هوا حالات یی ایجاب کړی د ګلی او یارمی د بیولو او سوقولو په

مادۀ بیست وسوم:
شمول حیوانات در ترافیك جاده:

(۱) حیوانات در صورتی شامل ترافیك جاده شده میتواند که سایق (رهنما) قدرت ادارۀ آنرا داشته باشد. شخصیکه مسوول حرکت ورهنمایی حیوانات میباشد باید قواعد ترافیکی مربوطه را در جاده عامه رعایت نماید.

(۲) در جریان ازدحام وتراکم ترافیکی عبور ومرور حیوانات بالای جاده عامه ممنوع میباشد.

(۳) حیوانات اهلی وخانگی که حرکت آنها بالای جاده عامه جریان ترافیك را اخلال ویا بخطر مواجه نماید ویا باعث توقف ترافیك گردد از جاده عامه دور نگهداشته شود.

(۴) کشاندن حیوانات از عقب واسطه نقلیه ممنوع میباشد.

(۵) در صورت راندن وسوق گله ویا رمه در موقع شب ودر حالیکه وضع جوی ایجاب

WWW.AEL.AF

صورت کښی دی د هغی په مخکښی سپین څراغ او ترشا سور څراغ حمل شی.

نمایـــد در پیشروی چراغ ســفید ودر عــقب آن چـــراغ سـرخ حمـل گـردد.

څلیر ویشتمه ماده:
د ترافیکـی پیښـی د پیښـیدلو پـه صورت کښی مکلفیتونه:

مادۀ بیست وچهارم:
مکلفیت ها در صورت وقوع حادثه ترافیکی:

هغـه چلـوونکی دی چـی د ترافیکـی پیښی مرتکب کیږی لاندی ټکی په پام کښی ونیسی:

رانـنده ایکـه مرتکب حادثۀ ترافیکی مـیشود نکـات آتـی را رعـایت نـماید:

(۱) د پیښی له پیښیدلو نه وروسته دی بی لـه ځنډه ودریږی او د خپلی نقلیه واسطی د اشاری څراغونه دی ولګوی او د ایجـاب پـه صـورت کښـی دی د پیښی ځای د ترافیکی اخطاریه علامو په کښیښودلو سره او د شپی له خوادی د څـراغ پـه کښیښـودلو د ترافیکـو د نـورو شـاملیـنو لـپاره د تشـخیص وړ کړی.

(۱) بـلا فاصـله بعـد از وقـوع حادثـه تـــوقف نمـوده وچراغهـای اشـاره واســطۀ نقلــیه خود را روشن نماید و در صورت ایـجاب مـحل حـادثه را بـا گذاشـتن عـــلایم ترافیکـی اخـطاریـــه ودر وقـــت شـــب بـــا گـــذاشتن چـــراغ بـــرای دیـــگر شـــاملین تـــرافیك قابـل تشـخیص بـــسازد.

(۲) د ټپیـانو سره دی مرسـته وکړی د لومړنیو مرستو تدبیرونه دی ونیسی او ډیر ژر دی هغوی صحی ځایونو او یـا روغتون ته انتقال کړی. د ټپیانو هویت دی یادداشت کړی او جریـان نـه دی د ترافیکو څارندوی ته خبر ورکړی.

(۲) بـا مجروحین کمك نموده تـدابیر معاونت اولیه را اتخاذ و هرچه زود تر آنها را به مواضع صحی ویا شفاخانه انتقـال داده هویـت مجـروحین را یـاد داشـت و جـــریان را بـه څـــارندوی ترافیك اطـلاع بدهد.

(۳) د پیښی شاملین دی خپل هویت او پته یو بل سره تبادلـه کړی، د پیښـی د

(۳) شـــاملین حادثـــه هویـــت وآدرس خـــویشرا تبادلـــه نـــموده هـــویت

WWW.AEL.AF

لیدونکو هویت دی یادداشت کړی او د ترافیکـو د څارنـدوی تـر را رسـیدلو پوری دی د پیښی په ځای کښی انتظار وباسی د عردای وضع او د علامو نښی دی نه بدلوی.

شـهود حـادثه را یـاد داشـت والـی رسیدن څـارندوی تـرافیك در مـحل حـادثه انـتظار کـشیده وضـع عـراده وآثـار علایـم را تـغییر نـدهند.

(۴) که چېری پیښـه د مـالی زیـان سبب شـوی وی او د ترافیکـو د جریـان د بندیـدلو او ګډوډ کېـدلو باعـث شـی، نقلیه واسطی دی د ترافیکو له جریان وایسـتل شـی او د واټ پـه ډیـری ښـی برخی کښی تم کړای شی او د امکان په صورت کښی دی د ټکر اصلی ځای په نښه شی.

(۴) هـرګاه حادثـه منجـر بـه خسـاره مالی گـردیده باشد وباعث بندش ویا اخـلال جـریان ترافیك گردد وسایط نقلیـه از جـریان تـرافـیك خـارج وبـراسـت تـرین حـصه جـاده تـوقـف داده شـود ودر صـورت امکان محـل اصـلی تـصادم نـشانی کـرده شـود.

(۵) کـه چېـری د ترافیکـی پیښـی شـاملین د معقـول او د اثبـات وړ عـذر په صورت کښی د پیښی ځای پریږدی، ډیـر ژر دی موضـوع نـه د ترافیکـو څارندوی ته خبر ورکړی او همدارنګه دی خپـل شـهرت، ادرس او د خپلـی نقلیه واسطی مشخصات د پیښی نورو شاملینو ته څرګند کړی.

(۵) هرګاه شاملین حادثه ترافیکی به نـسبت عـذر معقـول وقابـل اثبـات محل حـادثه را ترك نمایند هرچه زود تـر مـوضـوع را بـه څارندوی ترافیك اطلاع وهـکذا شهرت آدرس خویش و مـشخصات واسـطه نقلیـه خـود را بـدیگر شـاملین حـادثه نیـز ارائـه بدارند.

پنځه ویشتمه ماده:

د واټ له مخی نه د غیر فعال نقلیه واسطو راکښل:

(۱) د نقلیـه واسـطو راکښـل د ټینـګ

مادۀ بیست وپنجم:

کش نمودن وسایط نقلیه غیر فعال از روی جاده:

(۱) کش نمـودن وسـایط نقلیـه توسـط

WWW.AEL.AF

ځنځیر، د تینګ کیبل، د اوسپنی د میلی (بوکسل) او یا د نورو مخصوصو تجهیزاتو په واسطه صورت مومی.

زنجیر محکم، کیبل مقاوم، میله آهنی (بوکسل) ویا توسط تجهیزات مخصوص دیگر صورت میگیرد.

(۲) د راکښل کېدونکی نقلیه واسطی چلوونکی دی د چلولو جواز ولری او د خپلی نقلیه واسطی د راکښلو په وخت کښی دی د واټ ترافیکی قواعد په پام کښی ونیسی. د راکښونکی نقلیه واسطی چلوونکی دی د شاته لیدلو هنداری په واسطه د راکښل کېدونکی نقلیه واسطی وضعیت او حالت ته متوجه وی.

(۲) راننده واسطه نقلیه کش شونده دارای جواز رانندگی بوده و درموقع کش شدن واسطه نقلیه اش قواعد ترافیکی جاده را رعایت نماید. راننده واسطهٔ نقلیه کش کننده توسط آئینه عقب بین متوجه وضع وحالت واسطه نقلیه کش شونده باشد.

(۳) د کیبل په واسطه د نقلیه واسطی راکښل په هغه صورت کښی مجاز دی چی د راکښل کېدونکی موټر اشترنګ او برک فعال وی.

(۳) کش نمودن واسطه نقلیه توسط کیبل در صورتی مجاز است که اشترنگ وبرك موتر کش شونده فعال باشد.

(۴) د هغی نقلیه واسطی راکښل چی مجموعی مجاز وزن یی له پنځو ټنو نه زیات وی او یا زیات اکسلونه او یا ټریلر ولری د اوسپنی د کلکی میلی (بوکسل) او یا مخصوصو تجهیزاتو په واسطه صورت مومی.

(۴) کش نمودن واسطه نقلیه که وزن مجموعی مجاز آن بیشتر از (۵) تن ویا اکسل های زیاد ویا تریلر داشته باشد توسط میله مقاوم آهنی (بوکسل) ویا تجهیزات مخصوص صورت میگیرد.

(۵) له یوی نقلیه واسطی نه د زیاتو راکښل منع دی او د راکښل کېدونکی او راکښونکی نقلیه واسطو اوږدوالی

(۵) کش نمودن اضافه از یك واسطه نقلیه ممنوع بوده وطول واسطه نقلیه کش شونده وکش کننده از (۲۴) متر

WWW.AEL.AF

دی له (۲۴) مترو نه تجاوز ونکړی.

تجاوز ننماید.

(۶) د بی کجاوی موټر سایکل راکښل او په بی کجاوی موټر سایکل راکښل منع دی.

(۶) کش شدن موتر سایکل بدون کجاوه وکش کردن توسط موتر سایکل بدون کجاوه ممنوع میباشد.

(۷) په ورځ کښی د نقلیه واسطی د راکښلو په وخت کښی د راکښونکی نقلیه واسطی ډیم څراغ او د راکښل کېدونکی نقلیه واسطی د شا څراغونه ولګول شی.

(۷) در موقع کش نمودن واسطه نقلیه در روز چراغ دیم واسطه نقلیه کش کننده وچراغ های عقبی واسطه نقلیه کش شونده روشن گردد.

(۸) په اطرافی سرکونو کښی د راکښلو په وخت کښی د نقلیه واسطو اعظمی سرعت په ګړۍ کښی (۵۰) کیلومتره کېدلای شی.

(۸) در موقع کش نمودن در جاده اطرافی سرعت اعظمی وسایط نقلیه (۵۰) کیلو متر فی ساعت بوده میتواند.

شپږ ویشتمه ماده:
خاص امتیازات:
(۱) د واټ د ترافیکو د قانون د دوه ویشتمی مادی د حکم په پام کښی نیولو سره هغه نقلیه واسطی چی د آلارم په هارن، د اشاری په څراغ (آسمانی او یا شین څراغ) او مخصوص رنګ سنبال وی (د څارندوی، اطفائیی نقلیه وسایط امبولانسونه، د تعاونی خدماتو او د پیښو ضد نقلیه واسطی) د رسمی مهمی او عاجلی وظیفی د پای ته رسولو په وخت کښی د دی

مادۀ بیست وششم:
امتیازات خاص:
(۱) با رعایت حکم مادۀ (۲۲) قانون ترافیک جاده وسایط نقلیه که مجهز با هارن آلارم، چراغ اشاره (چراغ آبی ویا سرخ) ورنگ مخصوص میباشد (وسایط نقلیه څارندوی، اطفائیه، امبولانس ها ووسایط نقلیه خدمات تعاونی وضد حوادث) در موقع انجام وظیفه رسمی مهم وعاجل مقید به رعایت از احکام این مقرره

WWW.AEL.AF

مقرری د احکامو په رعایت کولو مقید نه دی او د ترافیکو د نورو شاملینو په وړاندی د لومړیتوب حق لری.

نبوده و در برابر دیگر شاملین ترافیك حق اولیت دارند.

(۲) د هغو نقلیه واسطو د نژدی کېدلو په وخت کښی چی د هغو د آلارم هارن او یا مخصوص څراغ په کار اچول شوی وی د نقلیه واسطو نور چلوونکی دی د واټ ډیری ښی غاړی کښی تم شی او د هغو د تېرېدلو لپاره دی لاره تشه کړی.

(۲) در موقع نزدیك شدن وسایط نقلیه که هارن آلارم ویا چراغ مخصوصه آن بکار انداخته شده باشد سایر رانندگان وسایط نقلیه بکنار راست ترین جاده توقف نموده و راه را برای عبور آنها تخلیه نمایند.

(۳) د واټ ساختمانی، ساتنی او څارنی او تنظیفاتو نقلیه واسطی چی د اشاری په ژیړ څراغ مشخصو علامو او ژیړ او تور رنګ مجهزی وی، د ایجاب او د وظیفی د اجرأ په صورت کښی په هر استقامت او د واټ په هری برخه کښی سیر او حرکت او یا توقف کولای شی.

(۳) وسایط نقلیه ساختمانی جاده، حفظ ومراقبت وتنظیفات که مجهز باچراغ اشاره زرد، علایم مشخص ورنگ زرد وسیاه میباشد در صورت ایجاب واجرای وظیفه بهر استقامت ودر هر حصه جاده سیر وحرکت ویا توقف نموده میتواند.

دغه ډول نقلیه واسطی د ترافیکو د نورو شاملینو په وړاندی د لومړیتوب حق نه لری.

این نوع وسایط نقلیه در باربر دیگر شاملین ترافیك حق قدامت ندارند.

(۴) د دی مادی د لومړی او دریمی فقری د نقلیه واسطو چلوونکی د وظیفی د اجرأ په وخت کښی دی په بشپړ احتیاط سره لاړ شی او د ترافیک امن او نظم دی په پام کښی ونیسی.

(۴) رانندگان وسایط نقلیه فقرۀ (۱) و(۳) این ماده هنگام اجرای وظیفه با احتیاط کامل رفتار نموده امن ونظم ترافیك را رعایت نمایند.

WWW.AEL.AF

اوه ویشتمه ماده:
په عامه واټونو باندی د خنډونو او اذیت د تولیدولو مخنیوی:
د واټ د ترافیکو په ارتباط لاندی تلنی او کړنې چې د واټ د ترافیکو د شاملینو او نورو اشخاصو د اخلال، د موانعو او آزار د تولید سبب کیږی منع دی:

۱ - د ماشین په چالان پریښودلو او اکسلیتر ته د زیات ګاز په ورکولو د ناهنجاره آوازونو تولیدول.

۲ - په ډیر لوړ او آزاروونکی آواز د نقلیه واسطی د دروازو ټرل.

۳ - په ځمکه باندی د شیانو او اجناسو او د نقلیه واسطی د بار راغورځول چی د آزاروونکو آوازونو د تولید سبب شی.

۴ - په عامه واټ باندی د موټر ځغلولو او په نقلیه واسطو سپورت او لوبی کول او د نمایشاتو اجراء کول.

۵ - په عامه واټ باندی د ناپاکیو اچول.

۶ - په عامه واټ باندی د نقلیه واسطی وینځل.

مادۀ بیست وهفتم:
جلوگیری از تولید موانع واذیت بالای جاده های عامه:
رفتار واعمال آتی با ارتباط به ترافیك جاده که باعث اخلال، تولید موانع واذیت شاملین ترافیك جاده وسایر اشخاص میگردد ممنوع میباشد:

۱ - تولید صداهای ناهنجار بواسطه چالان گذاشتن ماشین و گاز دادن بیش از حد اکسلیتر.

۲ - بستن دروازه های واسطه نقلیه با صدای بسیار بلند واذیت کننده.

۳ - پائین انداختن اشیاء و اجناس و بار واسطه نقلیه بر زمین که باعث تولید صداهای اذیت کننده گردد.

۴ - مسابقه موتر دوانی، سپورت وبازی نمودن واجرای نمایشات توسط وسایط نقلیه بالای جاده عامه.

۵ - ریختن کثافات بروی جاده عامه.

۶ - شستن واسطه نقلیه بالای جاده عامه.

WWW.AEL.AF

